# د افغانستان د ځايي ګمارل

شويو کارکوونکو طرحې
لاندې د راغلي کسانو لپاره
د ښه راغلاست کڅوره

This publication was withdrawn on 6 November 2023

HM Government

# د افغانستان د ځايي ګمارل شويو کارکوونکو طرحو لاندې د افغانستان نه د راغلي کسانو لپاره د ښه راغلاست کڅوړه

د ښه راغلاست دا کڅوړه پر دغه منظور جوړه شوې ترڅو تاسو وکولای شئ ځانونه په انګلستان کې په ښه شان سره مستقر کړئ او دا د هغو خلکو لپاره پلې کیږي کوم چې د افغانانو د بيا ميشتيدنې او مرستې پاليسي (ARAP) او د پخوانې بلاعوضې طرحې (ايکس-ګريشيا سکيم) (EGS) تر سيورې لاندې راځي. دا لارښود په عمومي ډول په برېتانيا کې د ژوند کولو په اړه ډيرى ګټورې نښې او لارښوونې له ځان سره لري.

په ځينو ځايونو کې دا کڅوړه يوازې په انګلستان پورې ځانګړې خدمات ترپوښښ لاندې نيسي - د سکاټلينډ او ويلز په هکله لينکونه د GOV.UK کورپاڼې په ويبپاڼو کې شتون لري. پدې کڅوړه کې معلومات د اوسني وخت موجوده وضعيتونه منعکسوي، او دا کڅوړه به ترارزونې لاندې ونيول شي. کوم بدلونونه چې په دې کڅوړې کې راځي، هغه به د دې کڅوړې اوسمهالې تازه نسخې کې منعکس شي.



## د برېتانيا د لومړي وزير سريزه

دا زما لپاره د وياړ ځای دی چې لومړنی کس يم چې برېتانيا ته ستاسو د خورا ګرم هرکليتوب په ترځ کې درته ښه راغلاست وايم.

برېتانيا د ټولو هغو افغانانو منندويه ده چې د برېتانيايي حکومت تر څنګ يې کار کاوه او زموږ د وسله والو ځواکونو تر څنګ يې په افغانستان کې خپل ژوند په خطر کې اچولی و. د انګلستان حکومت سره اوږه په اوږه ودريدو له لارې، تاسو په دغه هڅه کې سختۍ په شريکه وزغملې. ستاسو ونډه او مرستې په افغانستان کې زموږ د کارونو لپاره په خاص ډول ځانګړې وې.

موږ اخلاقي مکلفيت لرو تر څو هغه خطرونه چې تاسو زغملي وپېژنو، او دا خپله دنده بولو چې تاسو او ستاسو کورنۍ ته په انګلستان کې د خوندي ځای ورکولو له لارې ستاسو هڅې وستايو. موږ وياړ لرو چې تاسو دا وړانديز منلی دی او برېتانيا مو خپل کور وګاڼه.

دا کڅوړه پر دغه اساس ليکل شوې ترڅو تاسو او ستاسو کورنۍ سره د ځای په ځای کېدو او نوي ژوند په پيل کې مرسته وکړي. دا يوازې سمه او لازمه برېښي چې تاسو ته بايد دلته ښه راغلاست وويل شي او دا چې له لومړۍ ورځې څخه تاسو وکولای شئ احساس وکړئ چې دغه هيواد د خپل کور په شان وګڼئ. زه پوهيږم چې په وخت سره به تاسو احساس وکړئ دلته په خپل کور کې ياست، او دا چې په انګلستان کې ژوند به تاسو او ستاسو کورنۍ ته د نويو فرصتونو او افقونو ته د رسېدو زمينې برابرې کړي. زه په دا هم پوهيږم چې تاسو به وغواړئ چې د دې هيواد ژبه، کلتور او دودونه خپل کړئ، او د هغه په تاريخ پوه شئ. ستاسو خونديتوب او د بشپړ او قناعت وړ ژوند کولو حق د دې لارښوونې او د دې وړانديز له اساسي اصولو څخه دی.

زه ستاسو د خدمت لپاره ستاسو نه د زړه له کومې مننه کوم او تاسو او ستاسو کورنۍ ته په برېتانيا کې د خپل ښه ژوند د پيل لپاره خورا ښې نېکې هيلې وړاندې کوم.

This publication was withdrawn on 6 November 2023







**سریزه لخوا د:**

**ښاغلی رابرټ جېنریک، د پارلمان غړی، د کور جوړوني، ټولنو او سیمه ایزو چارو وزیر او**

**ښاغلی بین والېس، د پارلمان غړی، د دفاع وزیر**

**اغلې پریتي پټېل، د پارلمان غړې، د کورنیو چارو وزیره**

دیموکراسي ، بشري حقونو او د قانون حاکمیت ته درناوی د بریتانیا د کورنیو او بهرنیو سیاستونو او پالیسیو اساس دي.

د نړیوالو ملګرو تر څنګ، بریتانیا په داسې حال کې چې د افغان ملي دفاع او امنیتي ځواکونو او د افغانستان د دولت له نورو برخو سره په ګډه کار کوي، په افغانستان کې یې د بیاجوړونې، ثبات او امنیت د راوستلو لپاره د سرچینو ژمنه وکړه.

حکومت اعتراف کوي چې دا کار په افغانستان کې د ځایي کارکونکو(LES) د ژمنې او زړورتیا پرته، ډیرې وختونه په خطرناکو او د ننګونو څخه ډکو حالاتو کې، نه شو ترسره کیدی.

د ځایي کارکونکواو د هغوي کورنیو ته د ملاتړ چمتو کول دواړه د دې حکومت او د بریتانیا لپاره لومړیتوب لري. موږ هغو خلکو ته د خپل اخلاقي مکلفیت ادا کولو ته ژمن یو چې دې هیواد ته یې خدمت کړی.

له همدې امله موږ د دغه مناسب ملاتړ وړاندیز چمتو کوو تر څو د اوسنیو او پخوانیو ځایي کارکونکو خدمت ته درناوی ورکړي، هغه کسانو ته چې په افغانستان کې د بریتانوي ځواکونو او بریتانوي حکومت لپاره یې کار کاوه – داسې ملاتړ چې د هغه کارونو چې دوی ترسره کړي او د له هغو کارونو سره د تړلي خطرونو ښکارندوي وي.

هغه ځایي کارکونکي چې دا غوره کړي چې بریتانیا ته د استوګنې لپاره راشي کولای شي د خپلو کورنیو سره دا کار وکړي. د یوې مودې نه وروسته تاسو به وکولای شئ چې په بریتانیا کې د دایمي استوګنې لپاره غوښتنه ورکړئ. دا پدې مانا ده چې هر څومره ژر چې راورسیږئ، تاسو کولای شئ دلته د خپل ژوند او راتلونکې جوړولو لپاره د بنسټ ایښودو لړۍ پیل کړئ.

پدې لارښود کې ستاسو لپاره د ملاتړې کڅوړې په هکله معلومات او هغې ته د لاسرسي د څرنګوالي په اړه ګټور معلومات شامل دي. پدې کې د هستوګنې، کارموندنې او روغتیایي خدماتو او تعلیم ته د لاسرسي په اړه معلومات شامل دي.

په دغه لارښود کې د معلوماتو موخه داده چې ستاسو لپاره د پیل ګټور ټکي وي - ستاسو په سیمه کې د ځانګړي خدماتو په اړه نور تفصیلي مشورې به زموږ د ښه راغلاست مرکزونو، سیمه ییز شوراګانو او مدنې ټولنو له لارې هم شتون ولري.

موږ درک کولای شو چې تاسو د خپل هیواد په پریښودو کې به له ډېرو ستونزو او پیچلتیاوېو سره مخ شوي یئ او موږ غواړو چې د دغه فرصت نه په ګټه اخیستلو سره وواېو چې موږ به پهخپل توان کې هر څه وکړو ترڅو دا ډاډ ترلاسه کړو چې تاسو وکولای شئ په بریتانیا کې له موجودو فرصتونو څخه چې ستاسو لپاره شتون لري پوره ګټه پورته کړي.

موږ له تاسو څخه ستاسو د خدمتونو لپاره ژوره مننه کوو او غواړو چې تاسو بریتانیا ته په راتلو تود ښه راغلاست ووایو. موږ هیله لرو چې د وخت په تیریدو سره به بریتانیا تاسو ته د کور په څیر احساس درکړي او تاسو به خپل ژوند دلته په خپله ټولنه کې له ژور ټولنپالنې احساس سره وکړئ.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

**مینځپانګه**


۱: د افغانستان د ځايي ګمارل شويو کارکونکو طرحو لاندې بریتانیا ته رارسيدل ..... 5

۲: په بریتانیا کې ژوند ..... 7

دنده يا استخدام: ..... 14

۴: د سوداګرۍ پيل کول ..... 18

۵: د هستوګنې ځای او خدمتونه ..... 22

۶: روغتیايي پاملرنه ..... 24

۷: تعلیم ته لاسرسی ..... 27

۹: قانوني حقونه او مسؤلیتونه ..... 32

۱۰: په تبعیض عمل کول: ..... 33

ضمیمه الف: د خپل کور پیرودل ..... 34

ضمیمه ب: په بریتانیا کې د ماشومانو لپاره د ښوونځي د ځای ترلاسه کولو لپاره معلومات ..... 37


This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ۱: د افغانستان د ځايي ګمارل شويو کارکونکو طرحو لاندې بریتانیا ته رارسیدل

د بریتانیا حکومت، په افغانستان کې له ۲۰۱۳ کال راهیسې د اوسنیو او پخوانیو ځايي ګمارل شوو کارکونکو (LES) د ځای په ځای کولو یا نورو مرستو د وړاندې کولو لپاره یوه طرحه په لاره اچولې وه. د افغانانو د بیا میشتیدنې او مرستې پالیسي (ARAP) او پخوانۍ بلاعوضې طرحې - ګریشیا سکیم (EGS) تر سیوري لاندې، بریالي غوښتونکي او د هغوی وړ او مستحق اړوندي کسان به د بریتانیا ویزه ترلاسه کړي چې د ۵ کالو مودې لپاره به بریتانیا ته د داخلېدو اجازه ورکوي، د دې فرصت سره چې د دې پنځه کلنې دورې په پای کې به دناټاکلې مودې پاتې کیدو او اوسېدو د اجازې لپاره غوښتنه وکړي.

ستاسو حالت

که چیرې تاسو د ARAP یا EGS تر طرحو لاندې بریتانیا ته د کډوالۍ او ځای پر ځای کیدنې غوښتنلیک په بریالیتوب سر ته رسولی وي:

- تاسو او ستاسو د کورنۍ وړ او مستحق غړي به د دې وړتیا ولرئ چې بریتانیا ته د اوسېدو لپاره راشئ، په عملي ډول په هر ظرفیت زده کړې او کار وکړئ،او د تابعیت اخیستو په لورې به روان یاست.
- په بریتانیا کې تر پنځه کالو وروسته، تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي به وکولای شئ د تل مېشتېدنې او اوسیدو لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ، او له هغه څخه دولس میاشتې وروسته د تابعیت اخیستو وړتیا ولرئ. دا شرط نه دی چې پدې ټوله موده کې په بریتانیا کې پاتې شئ، او تاسو کولای شئ د بریتانیا څخه بهر سفر وکړئ.
- تاسو به عامه خدماتو ته لاسرسی ومومئ، د مثال په توګه روغتیا ته پاملرنه او ښوونه او روزنه.
- تاسو به د عامه مرستو د اخیستو وړتیا ولرئ کله چې تاسو د کار او تقاعد د څانګې لخوا ټاکل شوې د هستوګنې معمولي ازموینه پوره کړئ. دا کېدی شي تر ۳ میاشتو پورې وخت ونیسي، نو پدې موده کې به ستاسو ملاتړ د ځايي چارواکو لخوا کېږي.

د بریتانیا د تابعیت لپاره د غوښتنلیک په اړه د معلوماتو لپاره او په بریتانیا کې د ژوند کولو د اړخونو لاربښود لپاره، لکه رایه ورکولو ته د ثبت کولو په شمول، مهرباني وکړئ دلته وګورئ:https://www.gov.uk/browse/citizenship/citizenship

رارسیدل

بریتانیا ته د رارسیدو پر مهال به تاسو ته د استوګنې بایومیټریک جواز (BRP) درکړل شي. دا جوازونه به په بریتانیا کې ستاسو د اوسېدو د حق سند برابر کړي او تاسو ته وړتیا درکړي چې خپله هویت تصدیق کړئ، چې په بریتانیا کې د بانکي حساب د پرانیستلو پرمهال به اړین وي.

ستاسو BRP کې به شامل وي:

- ستاسو نوم، د زیږون ځای او نیټه
- ستاسو د ګوتو نښې او ستاسو د مخ یو عکس (دا ستاسو بایومیټریک معلومات دي)
- ستاسو د کډوالۍ وضعیت او ستاسو د اوسیدو هر ډول شرایط
- دا چې آیا تاسو کولای شئ عامه مالي سرچېنو ته لاسرسی ولرئ، د مثال په توګه مرستې او روغتیايي خدمتونه

مهرباني وکړئ دا مهم سند خوندي وساتئ ځکه دا په بریتانیا کې ستاسو د قانوني وضعیت ثبوت دی او ښیئ چې تاسو به د څومره مودې لپاره په بریتانیا کې پاتې شئ. که چېرې تاسو د بریتانیا څخه بهر سفر کوئ، تاسو باید داډ ترلاسه کړئ چې د استوګنې بایومیټریک جواز له ځان سره ولرئ.

د قرنطین اداره شوی هوټل

This publication was withdrawn on 6 November 2023

د جون په میاشت کې، کوید-۱۹ ته دغبرګون په توګه، افغانستان د یو داسې هیواد په توګه لیست شو چې که چیرې هر څوک له هغه هیواد څخه سفر کوي، هغه اړتیا لري چې د قرنطین اداره شوي هوټل ته لاړ شي، چې د بریتانیا د حکومت لخوا تنظیم شوی دی.

په داسې حال کې چې دا شرط لا په ځای پاتې دی، بریتانیا ته د رارسیدو سره، تاسو به د خپلې کورنۍ سره د قرنطین اداره شوي هوټل ته لاړ شئ. تاسو ته به حلال خواړه او مجهز تشنابونه درکړل شي، او که تاسو د غوټکیو او کوچنیو ماشومانو سره یاست، نو د دوی اړتیاوې به هم پوره شي. هره خونه د تلویزیون او انټرنیټ آسانتیاوې لري. تاسو کولای شئ پدې موده کې د کالو مینځلو خدمت هم ترلاسه او سرته یې ورسوئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې په عامه ودانیو کې دسګرټ څکولو اجازه نشته.

دا په رښتیني ډول ډیره مهمه ده چې تاسو پدې موده کې د مخ پوښونکې (ماسک) واغوندئ کله چې تاسو هوټل ته ننوځئ او کله چې خپلې خونې څخه بهر وځئ. د هوټل کارکونکو به په منظم ډول د کوویډ -۱۹ لپاره ازموینه کېږي او ټول وخت به ماسک اغوندي.

ځایي چاراواکي

وروسته له دې چې تاسې قرنطین هوټل کې خپله استوګنه پای ته ورسوئ، تاسو به ځایي چاروواکو ته ولیږدول شئ، چې په بریتانیا کې ستاسو د لومړیو دولسو میاشتو په اوږدو کې ستاسو او تاسو پورې تړلي کسانو مرسته وکړي. ځایي چاروواکي د بریتانیا د یوې ځانګړې سیمې سیمه ایز اداره کوونکي دي او د ځایي عامه خدمتونو او تاسیساتو مسؤلیت لري.

د ARAP/EGS د طرحو د یوې برخې په توګه، ځایي چارواکي به تاسو سره په بریتانیا کې ستاسو د مېشتولو او د نوي ژوند په پیل کولو کې مرسته وکړي، او تاسو ته د کارموندنې، فلاحي مرستو، هستوګنځی، روغتیا او زده کړې په شمول د مشورو او مرستو پنډه کې درکوي. دوی به تاسو سره مرسته وکړي تر څو تاسو:

- د خپل ځایي عمومي معالج ډاکټر (GP) سره ځانونه راجستر کړئ، چې د طبي مشورو په ګډون، ډیرې روغتیايي خدمتونه چمتو کوي.
- د خپل ځایي جاب سنټر پلس (د دندې د موندلو اداره) سره ځانونه راجسټر کړئ، چې دا اداره کولای شي تاسو سره په بریتانیا کې د دندې موندلو په اړه مرسته وکړي او کولای شي چې تاسو ته د ملي بیمې شمېره چمتو کړي.
- د ښوونځي عمر لرونکو ماشومانو لپاره چې کیدی شي تاسو یې په بریتانیا کې له ځان سره ولرئ، په ښوونځي کې ځایونو ترلاسه کړئ.
- ځایي چارواکي به تاسو ته هستوګنځی هم برابر کړي. د هوټل تر پریښودو وروسته، کیدی شي چې ستاسو اوږدمهاله هستوګنځی چمتو نه وي. که دا پیښ شي، پداسې حال کې چې ستاسو هستوګنځی به چمتو کیږي، تاسو ته به لنډمهاله هستوګنځی درکړل شي. ټول کورونه په بشپړ ډول مجهز او مفروش دي.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ۲: په بریتانیا کې ژوند

نفوس

بریتانیا داسې هیواد دی چې آزادۍ، زغم او دوه اړخیز درناوي ته ژمن دی، چیرې چې د هر شالید وګړي یوځای سره ژوند او کار کوي. کابو ۶۶ میلیونه وګړي په بریتانیا کې ژوند کوي. د بریتانیا ځینې سیمې په ځانګړې توګه لوی ښارونه د نورو په پرتله خورا متنوع دي. په ۲۰۱۱ کال کې، د وروستۍ سرشمېرنې په وخت کې، د نفوس ۱۴ سلنې څخه ډیر خلک ځانونه د سپین پوستو څخه پرته د نورو توکمیزو ډلو په توګه پیژندلي. سرشمیرنه سرکال په بریتانیا کې ترسره کیږي: https://census.gov.uk/

د اوسېدو ځای غوره کول

د ARAP/EGS پروګرام لاندې تاسو به په بریتانیا کې د ځایي چارواکو تر کنټرول لاندې سیمو کې ځای په ځای شئ او د دولس میاشتو لپاره به تاسو ته هستوګنځای او نورې مرستې درکړل شي. تاسو د بریتانیا په هره سیمه کې د ژوند کولو مستحق یاست او کیدای شي ده تاسو وغواړئ خپل هستوګنځای بدل کړئ، خو که تاسو غوره وګڼله خپل ځای بدل کړئ نو بیا به تاسو نور د ځایي چارواکو لخوا ملاتړ ونلرئ. په بریتانیا کې د خپل هستوګنځای د پیرلو یا د کور کرایه کولو په اړه د نورو مشورو لپاره، مهرباني وکړئ ۵م څپرکی (هستوګنځای او خدمتونه) وګورئ:

په بریتانیا کې بیلابیلې سیمې شتون لري چې خورا په زړه پورې صنعتونه او څواک لري - تاسو کولای شئ په لاندې ډول لینکونو کې په دې اړه نور معلومات ولولئ:

https://www.midlandsengine.org/ یا https://northernpowerhouse.gov.uk/

په هره سیمه کې د اړینو مهارتونو پوهیدو لپاره تاسو کولای شئ د هغې سیمې چې تاسو ورسره علاقه لرئ د مهارتونو مشورتي پینل ویب پاڼه وګورئ:
https://www.gov.uk/government/publications/skills-advisory-panels/skills-advisory-panels-list

کله چې بریتانیا ته کډه کوئ او تعلیم ستاسو د کورنۍ لپاره مهمه ستونزه وي، مهرباني وکړئ د معلوماتو لپاره اووم فصل او د ب ضمیمې ته مراجعه وکړئ.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

هوا

برېتانیا د خپلې هوا د تنوع او ژر ژر بدلون لپاره ښه پېژندل شوې ده. د اتلانتیک سمندر په څنډه د هغې په نسبي ډول تودو اوبو سره موقعیت، او د اروپا د وچې د اصلي ځمکې د نږدېوالي اغیز په دې کې لوی رول لوبوي. په توپوګرافي او په نسبي ډول په لنډو واټنونو کې د ځمکې په استعمال کې بدلونونه، اوږد ساحل او د زیات شمېر ټاپوګانو سره یوځای، ټول د هوا تنوع او ژر بدلون ته زمینه برابروي.

په ټوله کې، په برېتانیا کې د لویدیځو او شمالي سیمو په پرتله ختیځې او سویلي سیمې وچې، تودې، لمریزې دي او لږ بادونه لري. همدارنګه، د هوا دا مناسب شرایط معمولا د مني او ژمي په پرتله په پسرلي او دوبي کې ډېر ځله پېښیږي. خو دا په هیڅ معنی ټول حالتونه نه دی، او د هوا پېژندنې اداره (میټ آفس) ویبپا نه کې د اقلیم ټول توضیحات شتون لري چې په سیمه کې د موسم او موسمي توپیرونو خورا مهم توضیحات په ډېر تفصیل وړاندې کوي: د برېتانیا سیمه ییز اقلیمونه - میټ آفس

د عبادت ځایونه

په برېتانیا کې عیسویت، د ۳۳.۲ میلیونو خلکو سره تر ټولو لوی دین دی (د نفوس ۵۹٪). دوهم لوی دین د ۲.۷ ملیونه وګړو په لرلو اسلام دی (د نفوس ۵٪). د برېتانیا د نفوسو قابو څلورمه برخه د هیڅ دین پیروي نه کوي.

برېتانیا د ډېرو عقیدو ټولنه ده او په لویو ښارګوټو او ښارونو کې جوماتونه، کلیساګانې، د یهودانو عبادت ځایونه، معبدونه او نور د عبادت ځایونه شتون لري. برېتانیا ته ډېری نوو راغلیو کسانو دا وموندله چې دوی سره د خپلو عبادت ځایونو له لارې ملاتړ او مرسته کېږي او داسې ملګري یې موندلي چې له دوی سره یې دلته د بلدیدلو او تطابق په اړه مرسته کړې او دوی ته یې د ښه راغلاست احساس ورکړی دی. دلته د برېتانیا لپاره د انټر فیت (د مذاهبو مینځ کې د تفاهم) شبکې په خیر ډلې هم شتون لري[https://www.interfaith.org.uk/](https://www.interfaith.org.uk/)چې کېدی شي تاسو سره مرسته وکړي تر څو د عبادت ځای وموږئ لکه سیمه ییزه کلیسا، جومات یا د بودایانو معبد.

ژبې

برېتانیا، د برېتانوي انګلیسي املا کاروي، چې د امریکایي انګلیسي سره یو څه توپیر لري. په ټوله برېتانیا کې ډېرې بېلابېلې سیمه ییزې لهجې شتون لري. انګلیسي د برېتانیا په ټولو سیمو او برخو کې ویل کیږي. ویلش هم په پراخه کچه په ویلز کې کارول کیږي او تدریس کیږي او نورې پېژندل شوې سیمه ییزې ژبې هم شتون لري لکه سکاټس ګیلیک، سکاټس، آیرش/ګیلیک او کورنیش.

د اونۍ اخیري ورځې او عامه رخصتۍ

د برېتانیا د اونۍ اخیري ورځې د شنبې او یکشنبې ورځې دي چې ډېری دفترونه تړلي وي. بانکونه او پوستي دفترونه معمولا له دوشنبې تر جمعې او د شنبې په سهار خلاص وي، مګر د شنبې ماسپښین او یکشنبې په ورځ تړلي وي. خو بیا هم، ډېری دوکانونه او رستورانونه د شنبې په ورځ او تر ډېره د یکشنبې په ورځ خلاص پاتې کیږي.

د کال په اوږدو کې یو شمیر عامه رخصتۍ شتون لري: [.https://www.gov.uk/bank-holidays](https://www.gov.uk/bank-holidays) ځینې یې په ټوله برېتانیا کې پلي کېږي او ځینې یې په انګلستان، ویلز او سکاټلینډ پورې ځانګړې دي. چې په کې ډېری کاروباري چارې بندیږي، مګر دکانونه، رستورانونه او د تفریح ځایونه معمولا خلاص پاتې کیږي.

کلتور

د کال په جریان کې د هنر، موسیقۍ او کلتوري ننداريو او جشنونه شتون لري، لکه په لندن کې د ناټینګ هیل کارنیوال او په سکاټلینډ کې د اډینبرا فستیوال. کریسمس او ایسټر د عیسویانو اصلي لمانځنې دي، او د مختلفو مذهبونو دودونه او رواجونه هم شتون لري، لکه اختر (د مسلمانانو)، دیوالي (د هندوانو) او هنوکا (د یهودیانو) دودونه دي ،چې په برېتانیا کې د ټولنو ترمینځ په پراخه کچه پېژندل شوي او لمانځل کیږي.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

بریتانیاد نړۍ د يو شمېر عالي موزيمونو او هنري ګالريو کور دی - چې ډيری يې د ليدو لپاره وړيا دي - د موسيقۍ ځايونه او تياترونه. د ښارونو څخه بهر ښکلي کليوالي سيمې او ډيرې کلاګانې، تاريخي کورونه، پارکونه او باغونه شتون لري.

- [وېزيټ برېټېن](#) د لوی بریتانیا د سیاحت رسمي ویب پاڼه ده چې د برتانیا د هنرونو، کلتور، بیروني فعالیتونو او نورو څخه د خوند اخیستلو فرصتونو کتنې ته وړاندې کوي.
- [نشنل ټرسټ](#) . یو ملي خیریه بنسټ دی چې د طبیعت، ښکلا او تاریخ څارنه کوي تر څو ملت ترینه خوند واخلي. دوی په مایلونو اوږد ساحل، ځنګلونو، کلیوالي ساحو او په سلګونو تاریخي ودانیو، باغونو او په ټول بریتانیا کې قیمتي توکو ته پاملرنه او څارنه کوي.
- [بي بي سي بريټيش هيسټوري](#) - د اوږدې زماني راهيسې د برتانيا تاريخ ته يوه عمومي کتنه.

ستاسو ځايي ګاونډ

ستاسو ځايي ساحه کې ښايي يو لړځايي تاسيسات او آسانتياوې ولري. لوی ښارونه او ښارګوټي به يو سيمه ييز پوستي دفتر، درملتون، سوپر مارکيټونه او د خوارو پلورنځي ولري چې په کې د زياتو سليقو ارتياوې پوره کيږي. حلال خواړه په لوی ښارونو او يو شمير کوچني ښارونو کې چېرته چې د مسلمانانو ټولنه شتون لري، په آسانۍ سره موندل کيږي. په ټول هيواد کې بيلابيل حلال رستورانونه او د خوارو پلورنځي شتون لري. ستاسو سيمه ييز ګاونډ کيدی شي د تفريح مرکز يا جمنازيم ولري چيري چې تاسو سپورټ يا تمرين کولای شئ، ځايي پارکونه او کتابتونونه چې تاسو کولای شئ کتابونه ترې پور واخلئ او انټرنيټ ته لاسرسی وموئ که تاسو يې په کور کې نه لرئ. جوماتونه، ګوردوارې، معبدونه او کليساګانې هم په سيمه ييز ګاونډ کې د عبادت ځايونو قوي شبکې جوړوي. کتابتونونه او پارکونه د هر چا لپاره وړيا دي او د تفريح مرکزونه اکثرا د کارولو لپاره ارزانه دي.

داوطلبي (رضاکاري)

داوطلبانه کار د نوو خلکو سره د ليدلو، ملاقات کولو او د خپلې سيمې په اړه د زده کړې يوه غوره لاره ده. دا کيدی شي يوه خيريه موسسه، داوطلبانه سازمان يا د مالي مرستو د راټولولو اداره يا قانوني بنسټ وي. د داوطلبۍ په اړه د نورو معلوماتو لپاره، دا ويب پاڼه وګورئ: https://www.ncvo.org.uk/ او يا د کويد-۱۹ د واکسين د رضاکارانو لپاره له https://nhsvolunteerresponders.org.uk/ څخه ليدنه وکړئ.

سياسي سيستم

د بریتانیا اصلي ارزښتونو کې دموکراسي، د قانون حاکميت، درناوی، زغم او شخصي آزادي شامل دي.

د بریتانیا سیاسی سیستم د اساسي قانون له مخې د پاچاهي دولت واکمني او پارلماني ډيموکراسي ده. دپاچاهي واکمنه - ملکه اليزبت دوهمه - د دولت مشره ده، خو قدرت په ديموکراتيکه توګه ټاکل شوې پارلمان سره دی. لومړی وزير د حکومت مشري کوي. حکومت معمولا د تر ټولو لوی سياسي ګوند لخوا رامينځته کيږي چې د برېتانيا پارلمان ته د آزادو او عادلانه ټاکنو له لارې ټاکل کيږي.

د قانون جوړولو ځواک د[پارلمان په دوو مجلسونو](#) . ولسی جرګه (هاوس آف کامنز) او مشرانو جرګه (هاوس آف لارډز) سره ده. د ولسي جرګې مجلس (هاوس آف کامنز) له ۶۵۰ جغرافيوي انتخاباتي حوزو د نماينده ګانو (د پارلمان غړو يا MPs) څخه جوړ دی، چې په هرو پنځو کلونو کې د عامو خلکو لخوا ټاکل کيږي. د مشرانو جرګه (هاوس آف لارډز) د ګمارل شويو غړو څخه جوړ شوی دی.

سکاټلينډ او ويلز هم هر يو خپل خپل حکومتونه لري، او پداسې حال کې چې د دوی مسؤليتونه توپير لري، په عموم کې دوی د داسې مسئلو لکه د روغتيا پاملرنې او تعليم مسؤليت لري.

تاسو د دې لينکونو له لارې پدې ملتونو کې د خدماتو په اړه نور معلومات ترلاسه کولای شئ:

سکاټلينډ: https://www.scotland.org/live-in-scotland/moving-to-scotland#/welcome

ويلز: https://gov.wales/

This publication was withdrawn on 6 November 2023

د رایې ورکولو لپاره ځان ثبت کړئ

تاسو کولای شئ نور معلومات، چې څنګه د رایې ورکولو لپاره ځان ثبت کړئ دلته پیدا کړئ https://www.gov.uk/register-to-vote. ستاسو ځايي د پارلمان استازی د برېتانیا د پارلمان په ویب پاڼه کې په دې پته لیست شوی دی: https://members.parliament.uk/members/Commons

محلي حکومت

په برېتانیا کې، محلي حکومت په ځرګندو او ټاکل شویو ساحو کې د خلکو او کاروبارونو لپاره د یو شمېر حیاتي خدماتو مسئولیت لري. د دوی له جملې څخه ښه پېژندل شوي دندې ټولنیزه پاملرنه، ښوونځي، هستوګنځی او پلان جوړول او د فاضله توکو راټولول دي، مګر ځینې هم لږ پېژندل شوي خدمتونه د جوازونو ورکول، د کاروبار ملاتړ، دثبتولو خدمتونو او د حشراتو کنترول دي.

سیمه ییز چارواکي د یو شمیر سرچینو څخه مالي لګښت ترلاسه کوي، پشمول د دولتي بسپنو او مرستو، کونسل ټکس (د ښاروالۍ مالیه) او فیسونه او لګښتونه. کونسل ټکس هر کال د انفرادي سیمه ییز چارواکي لخوا ټاکل کیږي، او هره هغه کورنۍ چې ټکس تأدیه کوي د هغوی د کور په ارزښت او د هغوی په عاید پورې اړه لري. ښايي ځینې معافیتونه پلي شي؛ په دې اړه نور معلومات په دې ویب پاڼه کې موندل کیدی شي: https://www.gov.uk/council-tax

کونسلران یا د محلی شورا غړي د ځايي خلکو استازیتوب او له هغوی او شریکانو سره لکه ځايي کاروباري او نورو سازمانونو سره د دې لپاره کار کوي چې په محلي لومړیتوبونو توافق ته ورسیږي او پر مخ یې بوزي. پرېکړې د کونسل د دایمي کارمندانو او د کونسل د افسرانو لخوا پلي کیږي. تاسو کولای شئ هم د خپل کونسل د شورا سره اړیکه ونیسئ که تاسو کومه سیمه ییزه مسئله لرئ او احساس کوئ چې دوی کولای شي ستاسو په استازیتوب یې راپورته کړي: https://www.gov.uk/find-your-local-councillors

د خپل کونسل د محلي شورا د موندلو د څرنګوالي په اړه نور زیات معلومات دلته د لاسرسي وړ دي: https://www.gov.uk/find-local-council

په برېتانیا کې قانون

قانون ته درناوی په برېتانیا کې خورا مهم دی او هر څوک باید د قانون اطاعت وکړي. که تاسو قانون مات کړئ، نو تعقیب به شئ او پایلې به ولري. تاسو به یا جریمه شئ یا به زندان ته لاړ شئ.

په برېتانیا کې قانون په هر چا پلي کیږي. د دوسیې په اړه فیصله د قاضیانو لخوا د قانون په محکمه کې کیږي. په هر حالت کې له دواړه خواوو سره عادلانه چلند کیږي. د هر سړي نمایندګي د هغه د وکیل لخوا سر ته رسیږي.

په برېتانیا کې دوه ډوله قانون شتون لري:

- مدني قانون، چې د خلکو تر منځ شخړې هواروي
- جرمي قانون، چې جرم او جزا احتوا کوي

دواړه هغه څه اداره کوي چې تاسو یې په برېتانیا کې کولای شئ او یا یې نه شئ کولای.

ځینې ځانګړي قوانین د انګلستان، ویلز، او سکاټلینډ ترمینځ توپیر لري.

پولیس او دهغوی دندې:

پولیس د دې لپاره دي چې د خلکو، هغوی د حقونو او د قانون ساتنه وکړي. پولیس د مرستې او همکارۍ لپاره شتون لري او تاسو باید هغوی ته د ورتلو څخه ویره ونلرئ که چیرې تاسو د جرم قرباني یاست، ویڼۍ چې جرم د پېښېدو په حالت کې دی، او یا د عمومي مرستې لپاره، مثلاً که تاسو ورک یاست.

که تاسو د جرم پېښېدو له امله پولیسو ته اړتیا لرئ، نو تاسو باید لاندېنی ټیلیفون شمیرو ته زنګ ووهئ:

This publication was withdrawn on 6 November 2023

۹۹۹ - دا هغه شمیره ده چې زنګ ورته ووهئ که چیرې تاسو په اضطراري حالت کې یاست، د مثال په توګه که تاسو د برید قرباني یاست یا وینئ چې یو جرم ترسره کیدو په حال کې دی. کله چې تاسو زنګ ووهئ، ووایاست چې تاسو "پولیس" ته اړتیا لرئ، ځکه چې دا امبولانس ته د زنګ وهلو شمیره هم ده یا که چیرې اور لګېدلی وي.

۱۰۱ - دا هغه شمیره ده چې د لږ عاجل حالت لپاره ده، د مثال په توګه که ستاسو ملکیت زیانمن شوی وي، غواړئ پولیسو ته د جرم په اړه معلومات ورکړئ، یا که کومه عمومي پوښتنه کوئ او معلومات غواړئ.

که تاسو د هغو خدماتو څخه چې تاسو د پولیسو لخوا ترلاسه کړي راضي نه یاست، تاسو کولای شئ د پوښتنې په ترڅ کې د پولیسو هم هغه واحد یا دفتر ته یا د پولیسو د چلند په اړه خپلواکه اداره (Independent Office for Police Conduct) چې په انګلستان او ویلز کې د پولیسو ځواکونو پر وړاندې د شکایتونو د اداره کولو لپاره د سیستم د نظارت کولو مسؤلیت لري، یا په سکاټلینډ کې د پولیسو تحقیقاتو او بیاکتنې کمیشنر Police Investigations & Review Commissioner (PIRC) ته نیغ په نیغه شکایت وکړئ. د دې ورستیو ارګانونو رول دا دی چې بې طرفه، او له پولیسو څخه په خپلواک ډول، د پولیسو د چال چلند او رویې په اړه تحقیقات وکړي.

پیسې

په بریتانیا کې د اسعارو واحد پونډ سټرلینګ (£) دی. ۱£ (یو پونډ) = ۱۰۰پیسې (۱۰۰ پینیز، یا پینس). نغدي پیسې په ډیرو ځایونو کې منل کېږي خو په زیاتیدونکي توګه خلک د توکو او خدماتو تادیه کولو لپاره ډیبیټ/کریډیټ کارتونه کاروي.

د بانکي حساب پرانیستل

دلته ډیری بانکونه شتون لري او تاسو کولای شئ یو ترې غوره کړئ چې ستاسو لپاره مناسب وي. دلته یوازې-آنلاین چمتوکونکي هم شتون لري چې تاسو یې کارولی شئ.

د بانکي حساب پرانیستلو لپاره، معمولا تاسو اړ یاست چې د هویت فورمه وښایاست لکه خپل پاسپورت، BRP یا د موټر چلولو جواز یا پیژندل شوی پیژند پاڼه (شناختي کارډ) او همدارنګه ستاسو د ادرس ثبوت، لکه ستاسو د کرایې تړون یا د ګاز، بریښنا یا د تلیفون بل. تاسو باید د هر ډول لګښتونو په اړه پوښتنه وکړئ کله چې تاسو بانکي حساب پرانیزئ.

کله چې تاسو خپل حساب خلاص کړئ، ډیری وخت تاسو ته یو ډیبیټ کارت درکول کېږي. ډیری کارتونه پرته له تماس وي - ځینې پلورنځي به یوازې له تماس پرته تادیات مني همدارنګه ځینې ټرانسپورټ برابرونکي به، د مثال په توګه په لندن کې له تماس پرته تادیات مني - پدې اړه تاسو له خپل بانک څخه پوښتنه وکړئ.

تاسو کولای شئ د 'مستقیم ډیبیټ' په کارولو سره د خپل بانکي حساب څخه د بلونو د مستقیم تادیه کولو لپاره هم بندوبست وکړئ.

د بانکي حساب د خلاصولو د څرنګوالي په اړه نور معلومات په لاندېني لینک کې شتون لري: *https://www.citizensadvice.org.uk/debt-and-money/banking/getting-a-bank-account/*

بریتانیا ته د نغدو پیسو راوړل

کله چې بریتانیا ته راځئ نو تاسو کولای شئ له ځان سره نغدي پیسې راوړئ. لیکن کله چې تاسو بریتانیا ته داخلیږئ، که دا پیسې ۱۰۰۰۰ £ پونډه او یا ډیرې وي (یا په نورو اسعارو کې له دې سره مساوي وي)، تاسو باید د پیسو په اړه څرګندونه وکړئ. د څرګندونې فورمې د موندلو او ډکولو د څرنګوالي په اړه نور جزئیات په https://www.gov.uk/bringing-cash-into-uk کې موندل کیدی شي.

مالیه ورکول

په بریتانیا کې حکومت د (HMRC) https://www.gov.uk/government/organisations/hm-revenue-customs له لارې د کارې ځواک او شتمنیو مالیه راټولوي. د مرکزي حکومت عایدات عمدتا د عایداتو مالیه، د ملي بیمې مشارکتونه، د اضافه ارزښت مالیه، د سهامي شرکتونو مالیه او د تیلو د محصول څخه لاسته راځي.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

د بریتانیا د اوسیدونکو بهرني عایدات د بریتانیا د عایداتو په توګه مالیه کیږي، مګر د دوه ګوني مالیې څخه مخنیوي لپاره بریتانیا له ډیری هیوادونو سره هوکړه کړې ترڅو د بریتانیا د مالیې په مقابل کې چې بهر تادیه کیږي معافیت ورکړي. دا بیروني تادیه شوي پیسې په لازمي ډول هغومره ندي څومره چې واقعاً تادیه شوې وي.

د مالیه ورکونکو عواید د ټاکل شوي ترتیب سره سم د مالیې لپاره ارزول کیږي، لومړی د کار څخه عاید د شخصي منل شوي امتیاز څخه کمیږي او مالیه کیږي، وروسته د پس انداز عواید (له سود یا شتمنیو څخه عواید) او بیا وروسته د سوداګرۍ ونډو ګټه.

تاسو مسؤلیت لرئ چې د عایداتو مالیه په سمه اندازه تادیه کړئ. د عایداتو مالیه ستاسو د ټولې عاید یوه مشخصه فیصدي یا سلنه ده. که تاسو د کوم بل چا لخوا ګومارل شوي یاست، نو دا ډیری وختونه د مستقیم تادیې د سیستم له لارې ستاسو له میاشتیني معاش څخه نیغ په نیغه (PAYE) کمیږي. که تاسو د کوم شرکت یا بل کوم کس لخوا ګومارل شوي نه یاست خو عاید ترلاسه کوئ، نو تاسو مسؤلیت لرئ چې خپل عاید ښکاره کړئ او په سمه اندازه خپله مالیه ورکړئ. د مالیې مقدار چې تاسو یې تادیه کوئ پدې پورې اړه لري چې تاسو څومره عاید ترلاسه کوئ. تاسو کولای شې دا په [https://www.gov.uk/estimate-income-tax](https://www.gov.uk/estimate-income-tax) کې چیک کړئ.

د ملکیت پانګونې سوداګرۍ کې د کرایې عاید (لکه د ملکیت پیرودل د کرایه ورکولو لپاره) د ګروي یا ګنډه (مورګیج )سود په شمول له تخفیفونو وروسته د نورو سیما شوو عوایدو په څېر مالیه کیږي.

د نورې مشورې لپاره، تاسو کولای شئ د HMRC سره مستقیمه اړیکه ونیسئ، یا د ښاریانو له مشاور (سیټیزن اډوایس)، او همدارنګه مسلکي محاسبینو (اکاونټنټس) سره اړیکه ونیسئ.

د ملي بیمې سهم ورکول (NICs)

تاسو د ځانګړي بیمې او دولتي تقاعد د ورتیا لپاره د ملي بیمې مرستې تادیه کوئ.

تاسو لازمي ملي بیمه ورکوئ که چیرې ستاسو عمر ۱۶ کاله یا ډیر وي، او یا تاسو:

- یو کارکوونکی یاست چې په اونۍ کې ۱۸۴ £ پونډه عاید ګټئ؛
- خپل شخصي کار کوئ او په کال کې له ۶۵۱۵ پونډه یا ډیرې ګټئ.

هغه خلک چې د دولتي تقاعد عمر ته رسیدلي وي اړ نه دي چې د ملي بیمې ونډه تادیه کړي.

تاسو کولای شئ چې ستاسو د ملي بیمې د ونډې په تادیه کې د واټن د مخنیوي لپاره په خپله خوښه او داوطلبانه توګه د ملي بیمې ونډه تادیه کړئ.

د ملي بیمې په اړه نور معلومات د GOV.UK ویب پا ټه [National Insurance.gov.uk](National Insurance.gov.uk) کې موندل کیدی شي.

عامه ټرانسپورټ

په ټول انګلستان کې د ریل او بس پراخه شبکه شتون لري. د عامه ټرانسپورټ کارولو لپاره، تاسو باید د سفر دمخه ټکټ واخلئ. د ملي ریل ګاډو یا بسونو لپاره، ټیکټونه که له مخکې واخیستل شي نو معمولا ډیر ارزانه وي. تاسو کولای شئ د ملي ریل په ویب پا ټه کې نور معلومات وموموئ: [www.nationalrail.co.uk](http://www.nationalrail.co.uk).

تاسو اړتیا نلرئ د انګلستان، سکاټلینډ یا ویلز ترمینځ سفر کولو لپاره پېژند پاڼه یا بل د پېژندنې کوم سند وښایاست، پرته لدې چې تاسو په الوتکه کې سفر کوئ.

موټر چلول

تاسو باید د موټرو بیمه ولرئ ترڅو خپل موټر د انګلستان سړکونو باندې وچلوئ. د دریمې ډلې بیمه لږترلږه قانوني اړتیا ده. دا په دې معنا ده چې که تاسو کومې پیښې سره مخامخ شئ چې کوم بل کس، موټر، څاروي یا ملکیت ته زیان او ضرر ورسوئ، تاسو د بیمې لخوا تر پوښښ لاندې یاست. خو په دې کې نور لګښتونه لکه ستاسو د خپل موټر د ترمیم لګښت نه شامليږي.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

که تاسو په افغانستان کې د موټر چلولو بشپړ جواز لرئ، تاسو کیدی شي د یو کال لپاره په برېتانیا کې ادا جواز د ورو وسایطو(لکه موټرسایکلونو، ورو موټرو، او تر ۳۵۰۰ کیلوګرامو یا تر ۸ څوکیو لرونکو وسایطو پورې) د چلولو لپاره وکاروئ. جواز باید همغه موټر په بر کې ونیسئ چې تاسې یې چلوئ او لاهم باید د اعتبار وړ وي.

له دې مودې وروسته، موټر چلولو ته د دوام ورکولو لپاره تاسو باید د موټر چلولو موقتي جواز (پروویژنل لایسنس) ترلاسه کړئ او د ۱۲ میاشتو پای ته رسیدو دمخه د لوېې برېتانیې (GB) د موټر چلولو آزموینه په بریالي توګه تیر کړئ.https://www.gov.uk/apply-first-provisional-driving-licence

د موټر چلولو مؤقتي جواز غوښتونکې باید د D1 غوښتنلیک ډک کړي چې د پوسته خانو: https://www.postoffice.co.uk/، یا د موټر چلونکو او وسایطو د جواز ورکولو اداري څخه یې https://www.gov.uk/government/organisations/driver-and-vehicle-licensing-agency لاسته راوړی شئ، او د ملاتړ کوونکو نورو اسنادو پشمول د پېژندلو ثبوت او د قانوني استوګنې ثبوت سره یوځای ولیږئ. که هغه سند یا (اسناد) چې تاسو یې چمتو کوئ په انګلیسي کې نه وي، تاسو به اړتیا ولرئ د دغه ژباړه چمتو کړئ چې په انګلستان کې چمتو شوې وي او د ژبو د انستیتوت یا د ژباړې او ترجمانۍ انستیتوت پورې اړوند د رسمي ژباړونکي لخوا لاسلیک شوې وي. یو ژباړونکی چې د پېژندل شوي ژباړونکي شرکت لخوا ګمارل شوی وي او دغه شرکت د ژباړو د اتحادیې فعال غړیتوب لري هم منل کیږي.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ هغه پاسپورټونه چې د ویزې/استوګنې ټاپه لري باید د ناټاکل شوې مودې لپاره پاتې کیدو اجازه یې څرګنده وي. که غوښتونکې د BRP کارت لرونکې وي باید دا له غوښتنلیک سره ولېږي. غوښتنلیک باید لاندیني ادرس ته ولیږل شي:

*The Driver and Vehicle Licensing Agency, Swansea, SA99 1BT*

که تاسو په بل هیواد کې د موټر چلولو ازموینه سرته رسولې وي کېدی شي نور مقررات پلي شي. نور معلومات په لاندیني لینک کې موندلی شئ: https://www.gov.uk/exchange-foreign-driving-licence

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## دنده يا استخدام:

په بریتانیا کې، کاریګر د دندې ګمارنې ځانګړي حقونه لري، چې پکې شامل دي:

- د لږترلږه ملي مزد ترلاسه کول[1]
- له مزد څخه غیر قانوني کسر په مقابل کې محافظت
- د بامعاشه رخصتۍ قانوني لږترلږه کچه
- د آرام لپاره د وقفو قانوني لږترلږه اوږدوالی
- په اونۍ کې په اوسط ډول له ۴۸ ساعتونو څخه ډیر کار نه کول یا که تاسو غوره کړئ له دې حق څخه انصراف وکړئ.
- د غیر قانوني تبعیض پر وړاندې محافظت
- د کار په ځای کې د تخلف د راپور ورکولو په صورت کې له افشا کېدنې محافظت
- که تاسو لږمهالې کار کوئ تاسو سره باید نامناسب یا لږ مناسب چلند ونه شي

کیدی شي تاسو هم مستحق اوسئ د:

- د ناروغۍ پرمهال د قانوني معاش تادیه
- د بارداری په وخت د مورولۍ قانوني حقوق
- د پلارولۍ قانوني حقوق
- د بل چا د ماشوم د اولاد په توګه خپلولو حقوق
- والدینوته په مشترکه توګه د حقوقو ورکول

د اداري (ایجنسی) کارګران د کار له لومړۍ ورځې څخه ځانګړي حقوق لري.

د ګمارنې د حقونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، لاندې لینک وګورئ:
https://www.gov.uk/employment-status/worker

که تاسو د ګمارنې په اړه د خپلو حقونو په پوهیدلو کې نورې مرستې ته اړتیا لرئ، نو خپل سیمه ییز د اوسیدونکو مشاورتي دفتر سره اړیکه ونیسئ:
https://www.citizensadvice.org.uk/work/rights-at-work

د دندې موندل

د دندې موندل به نه یوازې ستاسو عاید ډیر کړي بلکه تاسو سره به مرسته وکړي چې په نوي ژوند کې استقرار ومومئ.

تاسو حق لرئ چې برتانیا ته د رارسېدو سره سم کار وکړئ ځکه چې تاسو ته د ARAP/EGS طرحو لاندې د انګلستان ویزه درکړل شوې ده.

په هرصورت، تاسو ته به په اوتومات ډول دنده درنکړل شي.

د انګلستان په هره سیمه کې د اړتیا وړ مهارتونو پوهیدو لپاره تاسو کولای شئ د هرې سیمې سره چې تاسو علاقه لرئ د هغې سیمې لپاره د مهارتونو د مشورتي پینل ویب پاڼه وګورئ:
.https://www.gov.uk/government/publications/skills-advisory-panels/skills-advisory-panels-list

دولت د کار موندنې او ګمارنې وړیا خدمتونه وړاندې کوي چې د دندې پلټونکو، د دندې موندلو لپاره د دوی اړیکه له زرګونو کارګمارونکو سره په ټوله بریتانیا کې نښلوي.

https://www.gov.uk/national-minimum-wage-rates[1]

This publication was withdrawn on 6 November 2023

دنده ومومۍ خدمت وړیا خدمت دی او دندې لټونکو ته اجازه ورکوي چې د ورځې ۲۴ ساعته، په اونۍ کې د کار لټون وکړي. تاسو کولای شئ د ګډون له حساب پرته دندو لپاره لټون وکړئ. مګر د دندې د غوښتنلیک لپاره تاسو اړتیا لرئ د یو حساب رامینځته کړئ یا ننوځئ (ساین اين وکړئ). دا تاسو ته اجازه درکوي چې خپل فعالیتونه تعقیب کړئ، د ځان لپاره د مناسبې دندې خبرتیاوې رامینځته کړئ او خپلې ډیری بیوګرافي ګاڼي (CVs) ذخیره کړئ.

همدارار تاسې ته داړ درکول کیږي چې د نورو بهرنيو او خپلواکو ادارو سره راجستر شئ ترڅو دندې بورډونو کې د خپلې دندې لټون پراخه کړئ لکه:

- Indeed ( اینډیډ)
- Reed (ریډ)
- CV Library ( سي، وي لایبرري)
- The Guardian Jobs ( دی ګارډین جابز)
- Total Job (ټوټل جابز)
- Monster (مونسټر)
- Jobsites ( جاب سایټس)

**۲مه برخه د دغه سیمو په اړه ډیر معلومات لري لکه شمالي پاورهاؤس.**

د مهارتونو مشورتي پینل به د محلي مهارتونو په اړه آنلاین راپورونه خپروي، او دا د ځايي خلکو لپاره د مسلک په اړه ښه معلومات لري.

د دندې ترلاسه کول

د دندې موندلو په موخه د مرستې ترلاسه کولو لپاره، تاسو کولای شئ:

- محلي او ملي ورځپاڼې یا د کمپنو ویب پاڼې چېرته چې دندې اعلانیږي وګورئ;
- د دندې موندنې او کمارنې ادارې سره چې کولای شي ستاسو لپاره د دندې ځایونه ومومي خپل ځان راجستر کړئ;
- د ځایي شرکتونو څخه لیدنه وکړئ ترڅو د دندو د خالي ځایونو په اړه پوښتنه وکړئ.

د دندې لپاره غوښتنه کول

کله چې تاسو هغه دنده چې غوښتنه یې کوئ معلومه کړه، غوښتنلیکونه معمولا د غوښتنلیک فارم یا CV (ستاسو زده کړې او کار مخینه - ستاسو د وړتیاوو او تجربې رسمي لیست) او یو پوښښ لیک سره ورکول کیږي.

کېدی شي کارګمارونکي ستاسو د اسنادونو د کتلو غوښتنه وکړي. دا به مرسته وکړي که تاسو وکولای شئ خپل اصلي اسناد لکه ستاسو BRP راوړئ ترڅو په بریتانیا کې ستاسو د کار کولو حق څرګند کړي. د کالج ډیپلومونه او ستاسو د وړتیا او تجربې کوم بل ثبوت به ګټور وي چې کار ګمارونکو ته یې وښایاست. کارګمارونکي ممکن د خلکو څخه د راجع کولو غوښتنه هم وکړي څوک چې کولای شي د کمارلو لپاره ستاسو وړتیا تصدیق کړي (لکه یو پخوانی مدیر، ښوونکی یا همکار).

د مشاغلو او مسلک (کیریرز) مشوره

تاسو کولای شئ د کیریرز مشورې او ملاتړ د ملي کیریرز خدماتو څخه ترلاسه کړئ. په انګلستان کې د کیریرز ملي خدمتونه بالغانو ته په ټولنه، آنلاین او د ټلیفون له لارې د کیریرز معلومات، مشورې او لارښوونه وړاندې کوي. هغه ځوانان چې د ۱۳ کلنۍ او له دې پورته عمر لري هم کولای شي د ۰۸۰۰۱۰۰۹۰۰ د مرستې شمېرې (هیلپ لاین) له لارې معلوماتو ته لاسرسی ومومي. په ویب پاڼه کې یولړ د کیریرز بیلابیل رولونه او د پرمختګ لارې شاملې دي. نور معلومات په لاندیني لینک کې موندل کیدی شي https://nationalcareers.service.gov.uk/

This publication was withdrawn on 6 November 2023

ستاسو د ملي بیمې شمیره

تاسو د ملي بیمې (NI) یوه شمیره لرئ تر څو ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو د ملي بیمې ونډه او مالیه یوازې ستاسو د نوم پر وړاندې ثبتېږي. دا له حروفو او شمېرو څخه جوړ دی او هیڅکله بدلون نه مومي.

تاسو کولای شئ د ملي بیمې شمیرې پرته کار ولټوئ او پیل یې کړئ که چیرې تاسو کولای شئ په بریتانیا کې د کارکولو حق ثابت کړئ. خپل BRP په ښودلو سره تاسو کولای شئ ثابت کړئ چې په بریتانیا کې د کارکولو حق لرئ، او د دې په شا کې به ستاسو د کارکولو د حق وضیعت چاپ شوی وي.

کارګمارونکي اړ دي چې د ټولو احتمالي کارکوونکو د کارکولو د حق لازمي معاینې ترسره کړي. د ملي بیمې شمیرې درلودل د دې چیک کولو برخه نه ده، او د ملي بیمې شمیرې درلودل دا نه ثابتوي چې یو فرد د کار حق لري.

که تاسو د NI شمیره نلرئ نو کولای شئ پدې اړه نور معلومات چې څنګه یې ترلاسه کولای شئ په دې لینک کې پیدا کړئ: https://www.gov.uk/apply-national-insurance-number، که چې غوښتنلیک وړاندې کوئ تاسو به اړتیا ولرئ چې د خپل پاسپورت یوه کاپي او هغه ثبوت چې تاسو د کارکولو حق لرئ وسپارئ.که چې غوښتنلیک وړاندې کوئ، تاسې ته به د هغه اسنادو په اړه وویل شي چې تاسو یې باید وسپارئ.

د ورتیایو او تعلیم د سطحې پېژندنه

د LES وضعیت لرونکي چې د بریتانیا څخه بهر د تعلیم او ورتیا سندونه لري، به اړ وي چې خپل د ورتیا سندونو ته رسمي پیژندنه ورکړي ترڅو وکولای شي کار وکړي، نورې زده کړې وکړي یا د بیا روزنې فرصتونه لاس ته راوړي. د مرستې لپاره د بریتانیا اروپایي شبکې معلوماتو مرکز UK European Network Information Centre (UK ENIC)، چې مخکې د بریتانیا NARIC و، سره اړیکه ونیسي. د بریتانیا ENIC نومول شوې ملي اداره ده چې د بریتانیا حکومت په استازیتوب د نړیوالو ورتیا سندونه، د افغانستان په شمول، د بریتانیا د ورتیاوو سندونو سره د پرتلې په هکله تخصصي مشوره وړاندې کوي.

د مسلکي متخصصینو سره چې غیر له بریتانیا نه مسلکي ورتیاوې ولري دوی به اړتیا ولري چې ورتیا یې په رسمي ډول په داسې مسلک کې کارکولو لپاره وپېژندل شي چې په بریتانیا کې تنظیم کیږي. که چیرې مسلکي کسان د مقرراتو مناسب تنظیم کونکي اداري په اړه ډاډمن نه وي، دوی کولای شي د بریتانیا د مسلکي قابلیتونو مرکز UK Centre of Professional Qualifications [UK CPQ] سره اړیکه ونیسي، ترڅو معلومه کړي چې دوی باید د مقرراتو کومې تنظیم کونکي یا مسلکي ادارې سره، د خپل مسلکي ورتیاوو پیژندلو د څرنګوالي په اړه د نورو معلوماتو لپاره اړیکه ونیسي. که ستاسو ورتیا دمخه په رسمي ډول د بریتانیا اړونده د مقرراتو تنظیم کونکي لخوا پیژندل شوې وي، ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د دې تنظیم کونکي په چیک کولو د خپلې پیژندنې د پریکړې په شرایطو پوه شوې یاست.

د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د ukcpq@ecctis.com سره اړیکه ونیسئ

ستاسو حقونه او په کار کې محافظت

که چې تاسو کار ته ځئ، تاسو حق لرئ چې تاسو سره عادلانه چلند وشي او په خوندي چاپیریال کې کار وکړئ. تاسو هم حق لرئ چې د خپل کارګمارونکي، همکارانو یا پیرودونکو له ویرې او ځورونې پرته د کارکولو جوګه اوسئ.

د هیواد هر کارګمارونکی باید خپل کارکونکو ته په ساعت کې قانوني ټاکلې لږترلږه پیسې ورکړي. دا څومره دي، پدې پوره اړه لري چې تاسو څو کلن یاست. مهرباني وکړئ د خورا تازه معلوماتو لپاره https://www.gov.uk/national-minimum-wage-rates وګورئ.

ستاسو د کار حالت او شرایط به ستاسو ته په ترون یا قرارداد کې په ګوته شوي وي. ډاډ ترلاسه کړئ چې لاسلیک کولو څخه وړاندې په پاملرنې مو لوستی وي، له یو ژباړونکي سره که چیرې لازمه وي.

تاسو د خپلو حقونو او کارګمارونکي د مسؤلیتونو په اړه کولای شئ د نورو معلوماتو لپاره د ACAS سره په ۰۳۰۰۱۲۳۱۱۰۰ اړیکه ونیسئ.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

د کار په ځای کې مساوات او تبعیض

د بنسټونو او سوداګرۍ دا قانوني دنده ده چې د کار په ځای کې له هر چا سره عادلانه چلند وکړي او همدا رنګه دندو ته د خلکو په استخداملو عادلانه چلند وکړي. د هر چا په وړاندې چې که د دندې لپاره غوښتنه کوي یا په کار ځای کې وي د جنسي او جنسیتي اصولو، نژاد، مذهب، واده شوي یا مدني شراکت، معلولیت، عمر، جنسي تمایل یا که امیندواره وي، پر بنسټونو تبعیض کول غیر قانوني دي.

کارګمارونکي باید د یو کارمند اړتیاوو ته درناوی وکړي تر هغې پورې چې دا د هغه کار سره چې دوی یې کولو ته ګمارلي وي مداخله ونکړي.

که تاسو فکر کوئ چې ستاسو په مقابل کې غیر عادلانه تبعیض شوی دی تاسو کولای شئ نوره مشوره او ملاتړ د برابرۍ د مشورتي خدماتو څخه ترلاسه کړئ.[www.equalityadvisoryservice.com](http://www.equalityadvisoryservice.com)

کـه تاسو کار کولو ته په زور اړ ایستل شوي یاست یا ستاسو کارګمارونکی ستاسو حقونو ته درناوی نه لري، تاسو کولای شئ ۰۸۰۰۰۱۲۱۷۰۰ شمېرې ته په ټېلیفون کولو د عصري غلامۍ مرستندویه اړیکې (موډرن سلیوري هیلپ لاین) څخه هم مشوره ترلاسه کړئ.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ۴: د سوداګرۍ پیل کول

په بریتانیا کې د سوداګرۍ اساس ایښودل

بریتانیا د سوداګرۍ پیل او ودې لپاره عالي ځای دی. دا یو قوي او خوندي سوداګریز چاپیریال، نړیواله اړیکه، د صنایعو پراخوالی چې په پراخه کچه د لوړو زده کړو کاري ځواک لري او د شرکتونو په بریالي کیدو کې مرسته کوي وړاندې کوي.

- **ثبات:** قوي قانوني او تنظیمي چاپیریال - بریتانیا د سوداګرۍ لپاره خوندي او باوري ځای دی
- **خدمات:** د نړۍ په سطح مسلکي مشران چې د سوداګرۍ په ډګر کې حیاتي دي، لکه بانکداري، محاسبه، قانون او تفتیش، د ژورو او متنوعو تجربو لرونکې دلته شتون لري
- **د تشبثاتو امکانات:** په نړۍ کې یو له ډېر نوښتګرو هیوادونو څخه په دغه مورد کې
- **پانګه اچونه:** په نړیواله کچه د بهرني مستقیمې پانګوونې مجالونه په غوره هیوادونو کې

بریتانیا تل یو داسې ځای دی چې بهرني متشبثو پانګوالو کډوالو پکې وده کړې ده. د متشبثینو شبکې یوې وروستنۍ مطالعې موندلې چې د بریتانیا سلو کړندۍ وده کونکو شرکتونو څخه، ۴۹٪ کې یې لږترلږه یو د کډوالو شریک بنسټ ایښودنکی درلود. په حقیقت کې، د بریتانیا اتباعو څخه ۱۷٪ غیر بریتانیایي اتباع خپل کاروبار لري بالمقایسه ۱۰٪ بریتانیایي اتباع خپل کاروبار لري.

بریتانیا د نړیوال بانک په وینا د سوداګرۍ کولو لپاره د نړۍ په کچه په لسو غوره هیوادونو کې ځای لري او د سوداګرۍ د پیل کولو لپاره یو له آسانه ځایونو څخه هم بلل کیږي. په ۲۰۲۰ کې په بریتانیا کې له ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات نوي سوداګریز کاروبارونه پیل شول، چې دا د بریتانیا د نوښتګر روح، متشبث کاري ځواک او د سوداګرۍ دوستانه چاپیریال ښکارندویي کوي.

د سوداګرۍ د پیل کولو لپاره، تاسو لومړی د هغې د قانوني کولو پریکړې ته اړتیا لرئ. ډیری سوداګرۍ کاروبارونه د یواځې سوداګرو، محدودو شرکتونو یا د شریکانو په توګه جوړیږي. تاسو شاید اړتیا ولرئ چې خپل شرکت کمپنیز هاوس (د شرکتونو د تسجیل مرکز) سره ثبت کړئ همدارنګه دا د سوداګرۍ په ډول پورې اړه لري چې تاسو یې سره تنظیم کړئ تر څو ډاډ ترلاسه کړئ چې ممکن تاسو ځینې جوازونو، اجازه نامو او جوازونو ته اړتیا ولرئ (د بیلګې په توګه که چېرې تاسو د سړک په غاړه کې خواړه پلورئ یا تجارت کوئ) او یا همدا راز د بیمې پوښښ ولرئ. همدارنګه که چیرې تاسو آنلاین (دانترنت له لارې) توکي پلورئ، د توکو د واردولو یا صادرولو کاروبار کوئ، یا تاسو توکي زیرمه کوئ او یا شخصي معلومات راټولوئ او کاروئ یې، دغو ټولو لپاره مقررات شتون لري چې تاسو یې باید تعقیب کړئ.

د نوي سوداګرۍ پیل کولو لپاره یا د موجوده سوداګرۍ د پراخولو لپاره، ستاسو د مشورې او لارښوونې اصلي سرچینه – چې د کارکونکو په هکله مرستې په شمول، د سمو مالي خبرمو پیژندنه، او د مقرراتو په مطابقت سره د سوداګرۍ نظام جوړولو لپاره کوم چیک لیستونه چې ورته اړتیا ده تاسو دغه د GOV.UK ویب پاڼې کې پیدا کولای شئ چې پته یې ده: https://www.gov.uk/browse/business.لکه څنګه چې د سوداګرۍ ملاتړ په لویه کچه یوه تفویض شوې مسئله ده، د GOV.UK ویب پاڼه هم هغه مرستې ته چې په سکاټلینډ او ویلز کې ادارو ته تفویض شوې دي او د هغوی لخوا برابریږي په نښه کړې دي.

کلیدي ملاحظاتو لنډیز دلته دی:

الف. د قانوني چوکاټ په هکله پریکړه وکړئ

- ستاسو سوداګریزې موخې ستاسو د کاري عملیاتو ډول تعینوي چې تاسو باید جوړ کړئ او درسره مرسته کوی چې خپل قانوني او د مالیه ورکولو وضعیت معین کړئ.
- ډیری سوداګرۍ کاروبارونه د یواځې سوداګرو، محدودو شرکتونو یا د شریکانو په توګه جوړیږي.

ب. د کمپنیز هاوس سره شرکت ثبت کړئ

- د کمپنیز هاوس سره د ثبت کولو لپاره تاسو اړتیا لرئ:
  - د شرکت لپاره یو مناسب نوم

This publication was withdrawn on 6 November 2023

- د شرکت لپاره یوه پته
- لږترلږه یو رئیس باید ولرئ
- د شرکت د ونډو په هکله توضیحات - تاسو لږترلږه یو ونډه وال ته اړتیا لرئ
- دا باید معلوم کړئ چې ستاسو د معیاري صنعت طبقه بندۍ شمېره یا 'SIC' code' کوډ څه شی دی – تر څو دا په ګوته کړي چې ستاسو شرکت څه کوي

• تاسو به همداراز دې ته هم اړتیا ولرئ:
  - ونډه وال سره موافقه وکړي چې دغه شرکت رامینځته کړي او لیکلي قواعد چې "د انجمن تفاهم نامه او اساسنامه" (memorandum and articles of association) په نوم پېژندل کېږي ولرئ.
  - د هغو کسانو توضیحات چې ستاسو په شرکت باندې د پام وړ کنټرول (PSC) لرونکي دي، د مثال په توګه هر هغه څوک چې له ۲۵٪ نه ډېره ونډه لري او یا د رایي ورکولو حق لري

• ثبت کول د £۱۲ پونډو په لګښت آنلاین بشپړ کیدی شي که تاسو ټول هغه ضروري شیان ولرئ چې د شرکت د تنظیم کولو لپاره ورته اړتیا لرئ. یو مسلکي مشاور هم ممکن تاسو سره همکاري وکړي او دا په غاړه واخلي.

ج. د سوداګرۍ بانکي حسابونو جوړول

• که تاسو په بریتانیا کې د سوداګریز کاروبار اراده لرئ، نو د بریتانیا بانکي حساب ته به اړتیا وي. دا نه یوازې په بریتانیا کې ستاسو سوداګرۍ ته اعتبار ورکوي، بلکه کیدی شي تاسې نورې ډېرې لیږدونې او معاملې ولرئ، دا به تاسو ته په ځایي کچه ارزانه پرېوځي، د بهرني بانکونو په مقایسه چې لیږدونې د هغو بانکونو له لارې خورا قیمتي دي. سربیره پردې (که چېرې تاسو د ارزښت اضافي مالیه یا VAT ثبتولو ته اړتیا ولرئ)، د بریتانیا بانکي حساب درلودل دغه پروسه ګړندۍ کوي.
• کله چې د سوداګرۍ بانکي حساب جوړوئ تاسې لاندې شیانو ته اړتیا لرئ چې له ځان سره یې ولرئ:
  - د سوداګرۍ پېرودونکي غوښتنلیک فورمه،
  - د شرکتونو قانون لاندې د ثبت شویو شرکتونو دنده او واک،
  - د شرکت د ثبت اسناد،
  - د پتې پېژندنه او تایید اسناد، د شرکت د جوړښت چارټ، د بانکي حساب راپور او تفتیش شوي حسابونه
• سربیره پر دودیزو بانکونو، بریتانیا همدا راز ډېر پرمخ تللي مالي تخنیکي سکتور لري، ډېرې شرکتونه دي چې د ډیجیټل بانکدارۍ خدمتونه وړاندې کوي. که څه هم دا بشپړ حل ندی، خو سره له دې ډیجیټل غوراوي اکثرا د سوداګرۍ بانکداري خدمتونو ته لاسرسي ګړندی او آسانوي او کولای شي نوي کاروبارونو، د نړیوالو متشبثینو او سوداګریو سره مرسته وکړي چې خپل راتګ د بریتانیا مارکیټ ته تسریع کړي، او د بریتانیا د شاهي عوایدو او ګمرکونو (HMRC) د اداري تعمیلي اړتیاوې او غوښتنې پوره کړي او وجوهات ورکړي او ترلاسه یې کړي.

د. د ارزښت اضافي مالیه (VAT) لپاره شرکت ثبت کړئ

• تاسو باید د HMRC سره د مالیې په هکله د VAT لپاره خپله سوداګریز کاروبار ثبت کړئ که چېرې ستاسو د سوداګرۍ د VAT مالیې وړ خرڅلاو مو تر £۸۵۰۰۰ پونډو څخه ډیر وي. ډېری سوداګرۍ کولای شي آنلاین ثبت شي. د دغه کار په کولو سره به تاسو د VAT لپاره هم ثبت شئ او هم به د VAT آنلاین حساب جوړ کړئ. تاسو اړتیا لرئ ترڅو خپله د VAT حساب HMRC ته وسپارئ.
• د شرکت (کارپوریشن) مالیه - تاسو باید د سوداګرۍ د پیل کولو وروسته د ۳ میاشتو په اوږدو کې د خپل شرکت په اړه HMRC ته ځانګړي معلومات ورکړئ. HMRC د دغو معلوماتو نه په استفادې سره به له تاسو څخه وغواړي چې کله ستاسو شرکت باید د کارپوریشن مالیه تأدیه کړي. کله تاسو د خپل شرکت د مالیې ځانګړې شمېره (UTR) ترلاسه کړئ، تاسو دا کار آنلاین کولای شئ - دا شمیره معمولا د شرکت ثبت کیدلو څخه څو ورځې درلیږل کیږي.

ه. د معاشاتو د ورکړې لپاره ثبت شئ

• د کار ګمارونکي په توګه تاسو معمولا باید د معاشاتو تأدیات د PAYE سیستم لاندې عملي کړئ. PAYE د HMRC سیستم دی چې له دندو څخه د عایداتو مالیه او ملي بیمې راټولوي.
• د HMRC سره د کارګمارونکي په توګه ځان ثبت کړئ او د PAYE آنلاین سیستم لپاره ننوتلو اجازه ترلاسه کړئ. تاسو باید د لومړي ځل معاش ورکولو څخه وړاندې ځان ثبت کړئ.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

- په بریتانیا کې د آنلاین استخدام کونکو ادارو له لارې تاسو د کارکونکو ګمارلو لپاره ډېر غوراوي لرئ چې هغوی کولای شي د ګمارنې پروسې په هکله تاسو سره مرسته وکړي.

و. د ځای لپاره لټون

- په بریتانیا کې د شرکتونو لپاره، ځای نیول کلیدي پریکړه ده چې ایا ځای په کرایه ونیسي (چې د "اجاره" په نوم پېژندل کېږي) یا د ځای پیرل (چې د "آزاده بیباده" په نوم پېژندل کیږي).
- د دغو ځایونو د [سوداګریز نرخونو](#) په هکله معلومات دلته ته وګورئ.

ز. د سوداګرۍ بیمه ترلاسه کړئ

- په بریتانیا کې، د بیمې محافظت لازمي دی تر څو تاسو د ډېرى خطرونو په اړه په امان کې وساتي. کله چې ستاسو نوی شرکت کارکونکي استخدام کوي، تاسو باید ژر تر ژره بیمه ترتیب کړئ. د بریتانیا قانون غوښتنه کوي چې تاسو د کار ګمارونکی د مسؤلیت بیمه او د دریمې ډلې مقابل کې د موټرو بیمه ولرئ. نورې بیمې چې تاسو کولای شئ په پام کې یې ونیسئ هغه د شتمنۍ، عاید، مکلفیتونو، خلکو او نور خطرونو بیمې دي.
- په بریتانیا کې بیمه د یو شمیر بیمه چلونکو متصدیو څخه چمتو کېدی شي.

د سوداګرۍ لپاره تمویل

د بریتانیا سوداګریز بانک د بریتانیا د دولت پراختیایي بانک دی. دا په بریتانیا کې د کوچني کاروبار لپاره مشوره او د ملاتړ وړاندې کوي، د مناسب مالي تمویلولو غوراوي په پېژندنه کې د مرستې په شمول. دغه بانک له ونډه والو سره په ګډه کار کوي او سټارټ اپس (تازه کاروبارونو) ته پورونه ورکوي او نوي تاسیس شوي شرکتونو ته وړیا لارښوونې کوي. په دې اړه نور معلومات دلته ترلاسه کړئ: www.british-business-bank.co.uk. د بریتانیا د سوداګرۍ بانک آنلاین فینانس هب (تمویل مرکز) دلته وګورئ www.british-business-bank.co.uk/finance-hub

د سټارټ اپ لونز کمپنې، چې د بریتانیا د کاروباري بانک برخه ده، د دولت له خوا تمویل شوي پورونه برابروي چې مقدار یې له ۵۰۰£ پونډو څخه تر ۲۵۰۰۰£ پونډو پورې رسیږي او د یوه کال څخه تر ۵ کلونو پورې د بېرته تادیې د شرایطو سره په کال کې ٪۶ ټاکل شوي ثابت سود سره چمتو کوي. د مالي تمویل برسېره، د هر پور اخیستونکي سره تر ۱۲ میاشتو پورې په وړیا ډول د سوداګرۍ د یو کارپوه د لارښوونې خدمتونه هم وړاندې کېږي ترڅو دوی سره د سوداګرۍ د کاروبار په جوړولو کې هر اړخیزه مرسته وکړي.

د مشورې نورې سرچینې او هغه سرچینې چې کولای شي تاسو سره د سوداګرۍ پیل کولو کې مرسته وکړي په لاندې ډول دي:

- په انګلستان کې د محلي ودې مرکزونه یا د سوداګرۍ اتاق کولای شي مناسبې مشورې چمتو کړي او ستاسو د سوداګرۍ تمویل او وده کولو کې مرسته وکړي. ستاسو په سیمه کې د دغو مرکزونو لیست دلته موندلی شئ: .www.gov.uk/business-finance-support

- د سوداګرۍ پلانونو لیکلو لپاره آنلاین سرچینې. د مثال په توګه، تاسو کولای شئ دې پرنسز ټرسټ (د شهزاده ودیعې شرکت) ویب پاڼې www.princes-trust.org.uk څخه د سوداګرۍ پلان تمپلیټونه راښکته کړئ یا په سټارټ اپ ډونټ کې www.startupdonut.co.uk د سوداګرۍ پلان لیکلو څرنګوالي مفصل معلومات ترلاسه کړئ.

**د سکاټلینډ سوداګریز ملاتړ دلته وموئ**

آنلاین په https://findbusinesssupport.gov.scot/ کې

تیلیفون:

۰۳۰۰۳۰۳۰۶۶۰ ټیکستفون:

۰۸۰۰۰۲۳۲۰۷۱ دوشنبه تر جمعه، د سهار له ۸:۳۰ څخه تر د ماښام ۵:۳۰ پورې

**د ویلز سوداګرۍ**

آنلاین په https://businesswales.gov.wales/ کې

This publication was withdrawn on 6 November 2023

تیلیفون:
۰۳۰۰۶۰۳۰۰۰ دوشنبه تر جمعه، د سهار له ۸:۳۰ څخه تر د ماښام ۵:۳۰ پورې

مرسته همدا راز د سوداګرۍ د ملاتړ د کرښې په ترڅ کې (یوازې د انګلستان لپاره) په دغه وړیا شمېره ۰۸۰۰۹۹۸۱۰۹۸ او د بریتانیا-په کچه د بریتانیا د سوداګرۍ بانک له لارې شتون لري.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ۵: د هستوګنې ځای او خدمتونه

خپل کور پیرل

پدې برخه کې د خپل کور پیرلو پروسه په لنډیز ډول بیانیږي، او د نورو معلوماتو لپاره دولت یو مفصل لارښود دلته خپور کړی؛ https://www.gov.uk/government/publications/how-to-buy-a-home/how-to-buy

مخکې لدې چې تاسو د ملکیتونو لیدل پیل کړئ تاسو باید په عمومي توګه د مارګیج پریکړه ترلاسه کړئ. دا د پور ورکونکي لخوا یو لیکل شوی بیان دی چې هغه اټکل کوي چې تاسو څومره پور اخیستلی شئ. دا تاسو ته ستاسو د بودیجې یو څه نښه درکوي او پلورونکو ته سیګنالونه ورکوي چې تاسو د ملکیت پیرود په اړه جدي یاستی. د یو پور ورکونکي څخه په اصولو کې د پریکړې ترلاسه کول پدې معنی ندي چې تاسو باید د دوی نه پور او ګروي واخلئ. په هرصورت، په اصولو کې د پریکړې د پروسې د برخې په توګه، ډیری پور ورکونکي به د کریډیټ (سابقه مالی حالت) لټون ترسره کړي. په هرصورت، په اصولو کې د پریکړې د پروسې د برخې په توګه، ډیری پور ورکونکي به د کریډیټ (سابقه مالی حالت) لټون ترسره کړي. ځینې پور ورکونکي به لومړی تفتیش ترسره کړي تر څو ستاسو د کریډیټ سکور (شمېرې) باندې اغیزه ونه کړي. نور پور ورکونکي به سخته پلټنه وکړي چې ممکن ستاسو په کریډیټ سکور باندې اغیزه وکړي. تاسو باید وموړئ چې پور ورکونکي کوم ډول پلټنې کوي، ځکه ډېرې پلټنې کول شاید ستاسو په کریډیټ سکور باندې منفي اغېزه وکړي.

یو شفاهي وړاندیز باندې هر وخت کې کیدای شي خبرې او اترې وشي تر څو چې تړونونه نه وي تبادله شوي، مګر تاسو باید د خبرو اترو دمخه په دقت سره فکر وکړئ او پوازې هغه وخت خبرو اتر په ترڅ کې بدلون راولئ کله چې بدلون توجیه کیدی شي؛ د مثال په توګه، که د کور سروې د پام وړ مسئلې په ګوته کړي وي. د بیا خبرو او د وړاندیز څېړلو هڅې کله چې د پلورولو د بشپړ وخت نږدې وي کیدی شي د ځنډ لامل شي او یا هم د پلورلو د ساقطیدو خطر په کې واقع شي.

د کور پیرل ممکن پیچلې وي مګر خورا قناعت ورکوونکې وي کله چې تاسو سم ځای ترلاسه کړئ. د دې په اړه پوهاوی چې څه باید تمه ولرئ او څنګه سمه لاره پرمخ بوځئ اړین دی. نور معلومات د الف ضمیمه کې موندل کیدی شي.

ځان ته کور په کرایه نیول

تاسو په بریتانیا کې د کرایه کولو حق لرئ. تاسو کولای شئ د خپل بایومټریک استوګنې جواز (BRP) وکاروئ ترڅو بریتانیا کې خپل د کډوالۍ حق په شمول خپل د کډوالۍ وضعیت هم تصدیق کړئ. د کور مالک یا لیټینګ اجنټ (رایه ورکونکي اجنټ یا د معاملات رهنما) ته خپل د ډیجیټل وضعیت د ثابتولو لپاره تاسو کولای شئ دغه آنلاین خدمت وکاروئ، کوم چې دلته موندل کیږي: https://www.gov.uk/prove-right-to-rent

د نوي کرایه دار د منلو دمخه د املاکو او کراېي اجنټان آزاد دي چې په قانونی ډول هر ډول مرجعي چکونه یا پلټنې څنګه چې مناسب ګڼي تر سره کړي.  پدې کې ممکن د عاید اړتیاوې یا د تضمین کوونکي اړتیاوې شاملې وي، چې په فردي ډول د هر مالک پریکړې پورې اړه لري. که چیرې د مرجعینو(ریفریسنس) چمتو کول ستاسو لپاره ننګونکي وي، نو موږ تاسو هڅوو چې د کرایه ورکونکي اجنټ یا د کور مالک سره د خپل شخصي حالت او د نورو مرجعینو په اړه خبرې وکړئ چې ممکن د منلو وړ وي.

د کراېي لپاره هستوګنځي د ځایي معاملاتو له اجنټانو له طریقه او د انلاین معاملاتو او املاکو ویب سایټ کې موندلی  شي. د شته شخصي کراېي کورونو ډولونه په ټول هیواد کې توپیر لري.

کله چې تاسو کور یا اپارتمان وموږئ نو شاید تاسو اړتیا لرئ چې یو څه پیسي دمخه ورکړئ. بیا تاسو د "کرایه داری تړون" ته اړتیا لرئ چې لاسلیک یې کړئ. دا ستاسو او د کور مالک تر مینځ قانوني تړون دی. ستاسو د کرایه داری تړون به دا ټاکي چې څومره کرایه باید تأدیه شي او کله، د ترمیم او ساتنې لیست کوم چې ستاسو مسؤلیت دی او هغه چې  د مالک مسؤلیت دی، او داسې نور مقررات یا بندیزونه  د مثال په توګه ، د سګرټ څښلو محدودیتونه.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

کرایه معمولا د ۶ یا ۱۲ میاشتو مودې لپاره ثابته ټاکل شوې وي. د کور مالک باید تاسو ته اجازه درکړي چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره په هغه کور کې پاتې شئ. که تاسو له لومړي سر نه اوږده ټاکلې موده غواړئ، نو تاسو کولای شئ د کور مالک نه پوښتنه وکړئ چې آیا هغه لدې سره موافقت کوي. تاسو مکلف یاست چې د کرایه دارۍ د ټولې مودې لپاره کرایه ورکړئ.

تاسو کولای شئ د کرایه کونکي په توګه د خپلو مسؤلیتونو او حقونو په اړه معلومات دغه حکومتي "څنګه په کرا ونیسئ لارښوونه" کې ومومئ، کوم چې دلته ده: https://www.gov.uk/government/publications/how-to-rent/how-to-rent-the-checklist-for-renting-in-england

د ښاروالۍ مالیه (کونسل ټکس)

تاسو د خپل ملکیت لپاره د ښاروالۍ مالیه ورکولو مسؤل یاست. دا د مالي کال لپاره ټاکل شوې اندازه ده چې د اپریل څخه تر مارچ پورې غځېدلې ده، او تاسو کولای شئ دا مالیه میاشتنۍ تادیه کړئ. د ښاروالۍ مالیه یوه مالیه ده چې ستاسو ځایی واک ادارې ته د هغوی د خدماتو لکه پاملرنې، ټولنیزو خدماتو، پولیسو او ځایي تاسیساتو لپاره ورځي.

د بې کوره کېدو مرستې او د ښاروالۍ هستوګنه

په انګلستان کې، ستاسو ځایي اداره باید تاسو سره مرسته وکړي که چېرې تاسو په قانوني ډول بې کوره شئ یا ژر تر ژره د بې کوره کېدو خطر سره مخ یئ. د ملاتړ بیلابیل ډولونه شتون لري چې ستاسو ځایي اداره یې درته وړاندیز کولای شي. د مثال په توګه، دوی ممکن تاسو ته مشوره درکړي، عاجل هستوګنه، د اوږدې مودې هستوګنې موندلو مرستې او یا تاسو سره مرسته وکړي ترڅو تاسو په خپل کور کې پاتې شئ. د مرستې کوم ډول چې تاسو ته وړاندیز کېږي هغه ستاسو د مرستې ورتیا پورې تړاو لري، که چېرې تاسو د "لومړیتوب اړتیا" کې راځئ، او څه لامل و چې تاسو بې کوره شوئ.

که تاسو د بې کوره کیدو خطر ولرئ، نو ژر تر ژره باید خپل سیمه ییز چارواکي سره اړیکه ونیسئ.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ۶: روغتیایي پاملرنه

په اضطراري حالت کې زه کوم خدمتونو ته لاسرسی لرم؟

که چېرې تاسو يا ستاسو د کورنۍ غړی ناڅاپي يا سملاسي جدي ناروغه شي نو تاسو بايد د خپل نږدې روغتون د پېښو او عاجل څانګې ته لاړ شئ چې د هر چا لپاره ورپا دی.

که چېرې حالت ډېر اضطراري وي نو **۹۹۹** شمېرې ته زنګ ووهئ او روغتون ته د لېږدولو لپاره د امبولانس غوښتنه وکړئ. دا خدمت وړيا دی او يوازې په اضطراري حالت کې بايد وکارول شي. که تاسو کولای شئ، نو ممکن په خپله هم **د ټپرنيواو پېښو څانګې** ته لاره جوړه کړئ.

د کوچنيو طبي ستونزو لپاره د ټپرنيو او پېښو څانګه مه کاروئ.

که چې ستاسو طبي وضعيت د ټپرنيو او پېښو څانګې کې ثابت حالت ته راشي، کېدی شي تاسو د روغتون په تخصصي څانګه کې پاتې کېدو ته اړتيا ولرئ تر هغه چې تاسو په بشپړ ډول روغ شئ او وکولای شئ کور ته بېرته ستانه شئ.

که تاسو په بېړنۍ توګه طبي مرستې يا مشورې ته اړتيا ولرئ مګر دا د ژوند ګواښونکی حالت نه وي، تاسو ۱۱۱ NHSته زنګ ووهئ.

لانديني معلومات په انګلستان کې د روغتيايي خدماتو په اړه دي - مهرباني وکړئ د ويلز، سکاټلينډ او د شمالی ايرلېنډ لپاره جلا ويب پاڼي وګورئ.

د ډاکټر - يو عمومي ډاکټر (جنرل پريکټشنر يا GP) سره راجستر کول

يو GP په برېتانيا کې لومړنی ډاکټر دی چې تاسو به عموما ورسره ليدنه کوئ کله چې غواړئ روغتيايي پاملرنې ته لاسرسی ومومئ. GP هغه ډېر ماهر ډاکټران دي کوم چې د عمومي درملنې په ټولو اړخونو کې روزل کېږي، د بيلګې په ډول د ماشوم روغتيا، د لوېانو درملنه او رواني روغتيا. ورباتجربې نرساني (پريکټيس نرسز) ور او راجسټر شوي نرساني دي چې معمولا د اوږدمهاله شرايطو لپاره کلينيکونه چلوي، د بيلګې په توګه، د شکر ناروغۍ. نور د روغتيا پاملرنې متخصصين هم د GP سره کار کوي، لکه فارماسيستان (درملګر) او فزيوتراپيست.

ځاي چاراواکي به تاسو سره د GP سرجري (کلينيک) چې همداراز پرکټيس هم ورته ويل کيږي، د راجسټر کولو په هکله ژر تر ژره مرسته وکړي، او هغه به ستاسو د اوسېدو ځای ته ډېر نږدې وي، حتی که تاسو اوس ناروغه هم نه ياست.

تاسو کولای شئ په برېتانيا کې د GP جراحي سره راجستر کولو څرنګوالی دلته ومومئ: [https://www.nhs.uk/nhs-services/gps/how-to-register-with-a-gp-surgery/](https://www.nhs.uk/nhs-services/gps/how-to-register-with-a-gp-surgery/)

د GP سره راجستر کولو لپاره، تاسو اړتيا لرئ خپل نوم، د زيږون نېټه، پته او د ټيليفون شميره که يې لرئ ورکړئ. د GP سرجري ممکن ستاسو د نوم او زيږون نيټې لپاره ثبوت وغواړي (د بيلګې په توګه ستاسو پاسپورټ يا بيژندل شوی شناختي کارت) او د پتې ثبوت چېرې چې اوسئ. په هرصورت کې، دوی نشي کولای ستاسو له راجستر کولو څخه انکار وکړي که چېرې دا ثبوتونه شتون نلري.

وروسته لدې چې تاسو خپل نوي GP سره راجسټر شئ ممکن تاسو نه غوښتنه وشي چې يوه روغتيايي معاينه وکړئ. دا معمولا د يوې نرسې لخوا ترسره کيږي. دا مهمه ده چې تاسو دغې مقررې شوې ناستې ته ولاړ شئ حتی که تاسو روغ هم ياست. که تاسو د انګلستان يوې بلې برخې ته لاړ شئ، نو تاسو به اړتيا ولرئ چې د نوي GP سره ځان هلته ثبت کړئ. تاسو يوازې يو وخت کې د يوه GP پرکټس سره ثبت کيدی شئ.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

د رواني روغتيا خدمتونه

د رواني روغتيا ستونزې د هغو اندېښنو څخه نيولې چې موږ ټول يې د ورځني ژوند په برخو کې تجربه کوو تر د اوږدمهاله جدي حالت پورې دي. اضطراب، د صدماتو وروسته د فشار ناروغي (پوست ټراماتيک سترس ديس آرډر) فشار اختلال او خپګان خورا عامې ستونزې دي. که چېرې تاسو د څو اونيو څخه زياتې موده لپاره د اندېښنې احساس کوئ او ستاسو ذهني روغتيا ستاسو ورځنی ژوند اغيزمنوي، نو خپل ډاکټر سره د خبرو لپاره د ملاقات وخت يا ليدڅمنه واخلئ.

مشوره د NHS په ويب پاڼه https://www.nhs.uk/mental-health/ کې هم شتون لري کوم چې د ښه احساس کولو په لاره کې ستاسو ملاتړ کوي. د NHS ويب پاڼه همدارز د نورو مرستندويو بنسټونو په هکله توضيحات او د دوی د مرستو او مشورې اړيکې چې تاسو کولای شئ ورسره تماس ونيسئ وړاندې کوي.

څنګه کولای شم د درملتون څخه درمل ته لاسرسی ومومم؟

ستاسو GP شايي تاسو ته ووايي چې درمل وخورئ او نسخه به درته وليکي. خپل نسخه درملتون يا درملګر ته وښيئ.

تاسو کولای شئ د خپل سيمه ايز درملتون موندلو لپاره د NHS چايسز (غوراوی) څخه ليدنه وکړئ: http://www.nhs.uk/Service-Search/Pharmacy/LocationSearch/10 يا د خپل جي پي سرجرۍ څخه د مشورې لپاره غوښتنه وکړئ.

درملګر (فارماسيست) هم کولای شي د کوچنيو روغتيايي ستونزو، لکه زکام او تبوخی درملنې لپاره وړيا مشوره ورکړي. تاسو کولای شئ د درملتون څخه ځينې درمل د نسخې پرته واخلئ، چې په کې ځينې د درد د آراموونکي او د ټوخي درملونه شامل دي، خو په دغه صورت کې تاسو بايد د دې درملو د اخستو بدل کې پيسې تاديه کړئ. کيدي شي تاسو څخه د نسخې د درملو پيسې واخلي.

کرونا ويروس (کويډ-۱۹)

بريتانيا دا مهال د يوې کرونا ويروس د نړيوالې وبا څخه تېرېږي. د بريتانيا حکومت د کوويډ-۱۹ مشورې ويب پاڼه https://www.gov.uk/coronavirus معلومات لري د نښو د راپورورکولو څرنګوالي او د مرستو په هکله که چېرې تاسو اړ شوي ياست چې کور کې ځان منزوي کړئ. همدا راز تاسو ته په ګوته کوي چې تاسو د کوروناوايرس د نړيوالې ناروغۍ پرمهال له کومو اصولو کار واخلئ او د کرونا د وبا په حالت کې څه کولای شئ، د مثال په توګه تاسو څومره خلکو سره راټولېدلی شئ، د يوې خوندي فاصلې ساتل، او په ټول عامه ځايونو کې د مخ ماسک اغوستل. تاسو کولای شئ د ملي محدوديتونو څخه د بهر راوتلو 'کاري پلان' په اړه هم معلومات دلته ومومئ کوم چې روښانه کوي چې څنګه به راتلونکو مياشتو کې د کرونا ويروس مقررات بدليدلی شي.

که تاسو بريتانيا ته د 'ريډ لست' (سور لست) 'Red List' هيواد څخه رارسيدلی ياستئ، نو تاسو بايد د حکومت برقرارو مقرراتو مطابق په هغه وخت کې قرنطين شي.

د کرونا ويروس واکسين کولو لپاره وخت نيول

تاسو د NHS له لارې د COVID-19 وړيا واکسين کولو لپاره وړ ياست. که چېرې تاسو د GP سره راجستر شوي ياستئ، نور توضيحات دلته دي چې تاسو څنګه کولای شئ د کرونا ويروس واکسين لپاره وخت ونيسئ: https://www.nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/coronavirus-vaccination/book-coronavirus-vaccination/

واکسين به په بريتانيا کې هر وګړي ته چې دلته ژوند کوي وړيا و ړاندېز او چمتو شي. تاسو اړتيا نلرئ په GP سرجرۍ کې نوم ليکنه وکړئ يا د واکسين ترلاسه کولو لپاره د NHS شميره ولرئ. د ټولنې درملتونونه، د لومړنۍ پاملرنې شبکې (PCN)، د واکسيناسيون مرکزونه، نور ځايي سايټونه او د واکسين رسولو سيار موډلونه به وکولای شي د هغو خلکو سره مرسته وکړي چې تر اوسه د GP سره راجستر ندي.



This publication was withdrawn on 6 November 2023

زیږون یا مړینه ثبت کړئ

دا دولتي ویب پاڼي په کورنیو کې د زیږون یا مړینې د ثبت لپاره د ګامونو اخستلو په اړه مشوره ورکوي.

https://www.gov.uk/register-birth

https://www.gov.uk/when-someone-dies

د زیږنتون پاملرنه او خدمتونه

د زیږنتون خدمات د امیندوارۍ له پیل څخه د قابلې لخوا تر آخري مودې د لاسلیک وروسته پاملرنه تر پوښښ لاندې نیسي. دا معمولا د زیږون وروسته شاوخوا ۱۰ ورځې وي مګر کیدای شي له زیږون وروسته تر ۶ اونیو پورې وغځیږي.قابلې داډمنوي چې شخصي پاملرنې د امیندوارۍ، ماشوم زیږون او د زیږون نه وروسته دوره کې چمتو کړي. د دې پاملرنې ډیرې برخه به مستقیما قابله ګانې چمتو کوي، هغوی همداراز که چیرې لازمه وي د اړتیا په وخت کې د نسایې او ولادې یا نورو طبي شکیلتیا همغږي هم کوي.

یا قابلې سره ژرترژره اړیکه ونیسي کله چې تاسو پوهه شئ چې GP هر څوک چې په بریتانیا کې میشته وي باید یو امیندواره یئ.

دا ډېره اړینه ده چې تاسو یوه قابله یا GP ژرترژره د امیندوارۍ (ماشوم دمخه) پاملرنې په هکله وګورئ او هغه مالومات ترې لاس ته راوړئ چې تاسو د یوې تندرستې امیندوارۍ لپاره ورته اړتیا لرئ. د امیندوارۍ، زیږون او د NHS د زیږنتون خدمتونو په اړه تول هغه معلوماتو ته چې تاسو اړتیا لرئ دلته یې موندلی شئ:[Pregnancy - NHS (www.nhs.uk)]

هیله کوو د نورو معلوماتو لپاره دا لینک وګورئ [د بهرنی زائرینو د چارج کولو مقرراتو د پلې کولو په اړه لارښود - (publishing.service.gov.uk)]

د غاښونو درملنه/ د غاښونو پاملرنه او خدمتونه

که تاسو په بریتانیا کې اوسیږئ نو تاسو د NHS د غاښونو د درملنې مستحق یاست، کوم چې یو نړیوال خدمت دی او استوګنځي ته اړتیا نلري. د NHS د غاښونو درملنه **وړیا نده** پرته له هغو ناروغانو لپاره چې په مستثنی کټګورۍ دي، نو په دغه ډول هر څوک چې په بریتانیا کې میشت وي باید پیسې تادیه کړي لکه څنګه چې یو بریتانیایی اوسیدونکی یې کوي.

وړیا معافیت په لاندې قضیو کې پلې کیږي

- درملنه وړیا ده (د بیلګې په توګه د ټکونو لرې کول، په خوله کې د وینو بهیدنې بندول، د مصنوعي غاښونو ترمیمول)
- که د شخص عمر له ۱۸ او یا له ۱۹ کلونو څخه کم وي خو بشپړ وخت په تعلیم کې وي
- امیندواره ښځه وي، او یا ماشوم یې زیږیدلی وي په تېرو ۱۲ میاشتو کې د MAT B1 تصدیق یا د زیږون معافیت سند (MatEx) باید د غاښونو کلینیک ته وښودل شي.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ۷: تعلیم ته لاسرسی

ښوونه او روزنه یوه تفویضي مسئله ده؛ د تعلیم او ماشومانو پورې تړلې تولنیزې پاملرنې مسئلې د بریتانیا د هر یو ملت ته تفویض کړل شوی مسؤلیت دی.

د ماشومانو پاملرنه

تاسو وړیا ساعتونو لپاره د ماشومانو پاملرنه ترلاسه کولای شئ که چې ستاسو د ماشوم عمر د ۲ ځخه تر ۴ کلنی پورې وي. تاسو کیدی شي د دغو لپاره غوښتنه وکړئ:

- **عمومي ۱۵ ساعته امتیاز:** دا د ۳ او ۴ کلنو ماشومانو لپاره چې په انګلستان کې ژوند کوي شتون لري، پرته لدې چې د کډوالۍ وضعیت یې په پام کې ونیول شي.
- **د ۲ کلنو ښوزلو ماشومانو لپاره د ۱۵ ساعتوامتیاز:** د هغو ۲ کلنو ماشومانو لپاره شته دی چې ښوزله ګڼل شوي وي. د دغه امتیاز وړ هغه شرایطو سره برابرې کورنۍ او والدین دي چې د دولت ځخه ملاتړ ترلاسه کوي لکه یونیورسل کریډیټ (عمومي کریډیټ) یا ټکس کریډیټ (د مالي کریډیټ) او د عاید تر معین حد ځخه لږ عاید ترلاسه کوي. سربیره پردې، هغه ماشومان مستحق دي چې د پوهنې او روغتیا د پاملرنې پلان (EHCP) لري او یا هم تر پاملرنې لاندې دي.

د نورو معلوماتو لپاره ، مهرباني وکړئ دلته لاړ شئ: https://www.gov.uk/get-childcare

ښوونځی

که تاسو په انګلستان کې اوسیږئ او ۵ کلن تر ۱۶ کالو ښکته ماشوم لرئ تاسو اړ یاست چې باوري کړئ چې دوی د بشپړ وخت تعلیم ترلاسه کوي. د ځایي چارواکي چې تاسو او ستاسو کورنۍ ځخه ملاتړ کوي به پدې کې ستاسو سره مرسته وکړي.

دا کیدی شي یو د دغو نه وی:

- په دولتي تمویل شوي ښوونځي کې، چې نشي کولای ستاسې ځخه ستاسې د ماشوم د تعلیم لپاره پیسې واخلي؛
- په یوه خپلواکه ښوونځي کې (چې د ځانګړي یا شخصي ښوونځي په نوم هم بلل کیږي)، چې عموما به ستاسو ځخه ستاسې د ماشوم د تعلیم لپاره پیسې واخلي؛ یا
- تاسو کولای شئ خپل ماشوم لپاره په کور کې ښوونه او روزنه غوره کړئ.

۴ کلن ماشوم به په نورمال ډول په ابتدايي ښوونځي کې هم د بشپړ وخت تعلیم ترلاسه کړي، مګر تاسو اختیار لرئ چې د نیمې ورځې وخت لپاره ماشوم ته داخله وکړئ تر څو چې ۵ کلن کیږي او د هغه نه وروسته به سمدستی د پوره مودې لپاره پیل کړي.

د بدیل په توګه، تاسو کولای شئ د خپل ماشوم لپاره غوښتنه وکړئ چې د ښونځې د مودې په پیل سره د ۵مې کلیزې وروسته به ښونځې پیل کوي. همدا راز ځینې ښوونځي به د ۱۶-۱۸ کالو ځوانانو لپاره تعلیم چمتو کړي. دا ځوانان کولای شي د شپږم فارم کالجونو ته هم د داخلې غوښتنلیک ورکړي - کوم چې په عموم ډول د ۱۶-۱۹ کلونو ځوانانو لپاره تعلیم وړاندې کوي - یا د نورو زده کړو کالجونو ته چې کولای شي د ۱۶ ځخه پورته عمر لرونکو کسانو لپاره تعلیم چمتو کړي.

د خپل ماشوم لپاره په ښوونځي کې ځای ترلاسه کول

که چیرې تاسو په انګلستان کې اوسیږئ نو د لاندیني معلوماتو د موندلو لپاره خپل لوکل کونسل (ځایي شورا) سره اړیکه ونیسئ:

- ستاسو په سیمه کې دولتي تمویل شوي ښوونځي
- د شمولیت یا داخلې معیارونه د هغو ښوونځیو لپاره چې تاسو پکې علاقه لرئ

This publication was withdrawn on 6 November 2023

موږ دلته د والدینو لپاره معلومات د انګلیسي ښوونځي د داخلو د سیستم او د تنظیمولو په هکله او د دې کڅوړې په الف ضمیمه کې چمتو کوو.

موږ دلته د انګلستان ښوونځیو ته د لاسرسي لپاره بریتانیا ته د داخلیدو په هکله د بهرنیو ملیتونو ماشومانو د حقونو په اړه معلومات چمتو کړي.

که تاسو په سکاټلېنډ یا ویلز کې میشت یاستی دا پورته دوه لینکونه د دغو هیوادونو د ویبپاڼو په هکله لینکونه هم چمتو کوي.

په ښوونځي کې د ځای ترلاسه کولو په اړه نور تفصیلي لارښوونې لاندې ټاکل شوې دي. د دې احتمال شته، کله چې تاسو لومړی انګلستان ته راشئ، ستاسو غوښتنلیک به د ګلنۍ پروسې لاندې وي، نو د لارښود برخې ته ځانګړې پاملرنه وکړئ.

نورې زده کړې

نورې زده کړې (FE) د ثانوي زده کړو وروسته ټولې زده کړې په بر کې نیسي، هغه چې د لوړو زده کړو یوه برخه نوي (یعنې کومې چې د لیسانس فارغ التحصیلي یا ما فوق لیسانس په توګه نه اخیستل کیږي).

د ۱۶ – ۱۹ کلنو کسانو د تمویل ورتیا لپاره هر شخص دې ته اړتیا لري چې د کورنیو چارو وزارت لخوا د ټاکل شوي د کډوالۍ مقرراتو سره سم په انګلستان کې د اوسیدو حق ولري. ستاسو ښوونځی یا د نورو زده کړو تعلیمي اداره به تاسو سره د دې ورتیا چې د استوګنې شرایط پوره کولای شئ، مرسته وکړي.

د لا زیاتو نورو زده کړو کورسونو او تمویل په اړه معلومات دلته ترلاسه کړئ.

د ۱۴ - ۱۹ کلونو لپاره د لا زیاتو زده کړو کورسونو او ورتیاو په اړه معلومات دلته وموميء.

عملي زده کړې (اپرینټسشیپ)

عملي زده کړه په اصل کې یوه ریښتونې دنده ده چیرې چې تاسو زده کړه کوئ، تجربه ترلاسه کوئ او معاش اخلئ. تاسو د کارکونکي په حیث کاري قرارداد او د تعطیلاتو رخصتۍ لرئ. د عملي زده کړې په پای کې، تاسو به د خپل غوره مسلک لپاره اړینې سمې ورتیاوې او پوهاوی ولرئ.

دا د یو کال څخه تر شپږو کلونو پورې وخت نیسي ترڅو د کار زده کړه بشپړه کړئ دا په دې پورې اړه لري چې تاسو کوم یو مسلک غوره کوئ، کومه اندازه یې ده او ستاسو پخوانۍ تجربه تر کومه کچې ده. دا د حکومت او ستاسو د کار ګمارونکي لخوا ورکړل شویو بسپنو څخه تمویل کیږي.

تاسو به په انګلستان کې د کار د زده کړې تمویل لپاره وړ یاست که چېرې تاسو په انګلستان کې د ژوند او کار کولو اجازه ولرئ او د اوسیدو شرایط او معیارونه مو پوره کړي وي، لکه څنګه چې د تمویل په مقرراتو کې ټاکل شوي دي.

د عملي زده کړې لپاره، تاسو باید:

- ۱۶ کلن یا زیات عمر اوسئ
- دمخه په بشپړ وخت تعلیم کې نه یاست
- په انګلستان کې ژوند کوئ

تاسو کولای شئ عملي زده کړې پیل کړئ که چیرې تاسو خپل مسلک پیل کوئ، غواړئ بدلون په کې راولئ، یا تاسو خپله اوسنۍ دنده کې لوړتیا غوښتل غواړئ. تاسو کولای شئ پخوانۍ ورتیا لکه تحصیلي درجه ولرئ او بیا هم د کار عملي زده کړې پیل کول غواړئ.

که تاسو په انګلستان کې ژوند نه کوئ، مهرباني وکړئ په سکاټلېنډ یا ویلز کې د عملي زده کړو اختیارونه وګورئ،

د عملي زده کړې په اړه د نورو معلوماتو لپاره دا ویب پاڼه وګورئ: https://www.apprenticeships.gov.uk

This publication was withdrawn on 6 November 2023

د ښوونځي ترانسپورټ

ستاسو ماشومان کیدی شي ښوونځي ته وړیا ترانسپورټ ترلاسه کړي هغه پر دې پورې اړه لري چې څومره د پښو مزل دی، کومې ځانګړې اړتیاوې لري او آیا دغه د پښو مزل کول خوندي دی.

ټول ماشومان چې عمرونه يې له ۵ تر ۱۶ کلونو تر مینځ دي د وړیا ښوونځي ترانسپورټ وړ دي که چیرې دوی خپل تر ټولو نږدې مناسب ښوونځي ته ځي او لږترلږه ژوند کوي:

- د ښوونځي څخه په ۲ میلونو کې که چېرې دوی تر ۸ کلو څخه ښکته وي
- د ښوونځي څخه په ۳ میلونو کې که چیرې دوی ۸ کلن یا لوړ وي

د دې برسیره اضافي امتیازات شتون لري چې مفت له کور نه تر ښوونځي پورې ترانسپورټ تهیه ده د هغو ماشومانو لپاره چې د ټیټ عاید لرونکو کورنیو څخه دي.

د [ښونځي مفت ترانسپورټ](https://www.gov.uk/free-school-transport) په هکله جزئیات له خپلې سیمه ییزې شورا څخه واخلئ

هغه ماشومان او ځوانان چې ځانګړې د روزنې اړتیاوې او معلولیت لري *(SEND)*

په انګلستان کې د ټولو عامه ښوونځیو او کالجونه دا تمه کیږي چې د SEND یا هغه ماشومان او ځوانان چې ځانګړې د روزنې اړتیاوې او معلولیت لري د دوی اړتیاوې وپیژني او پوره يې کړي. هر ښوونځی د SENCo د (ځانګړې تعلیمي اړتیاوو همغږی کونکی) لري، کوم چې د SEND ماشومانو او د دوی کورنیو سره په ملاتړ کې کلیدي رول لوبوي. سربیره پردې، هر ښوونځی د SEN په هکله معلوماتو راپور خپروي د ښوونځي په خپل ویب سایټ کې ترڅو احتمالي کورنۍ پوه شي چې په هر انفرادي ښوونځي کې د ځانګړې تعلیمي اړتیاو په هکله څه ډول ملاتړ ترلاسه کولای شي. ښوونځي نه شي کولای په دې دلیل د ماشوم د شاملیدو مخه ونیسي ځکه چې هغه ځانګړې تعلیمي اړتیاوې لري.

که چیرې یو ماشوم ډیر پیچلې ځانګړې زده کړو ته اړتیاوې لري چې ممکن له عادي اړتیاوو په عمومي ډول ښوونځیو کې ورکول کیږي برسیره وي، نو په هرې سیمه ایزې ساحې کې ځانګړې ښوونځي شتون لري چې دغه مناسب تدارکات چمتو کولای شي. ځایي چارواکي دنده لري چې په خپله سیمه کې ماشومان او ځوانان وپیژني څوک چې SEN لري یا معلولیت لري یا کیدی شي وي لري. د دې دندې د یوې برخې په توګه، مور به دغه برخه کې د ځایي چارواکو څخه تمه لرو چې هغه کسان چې د دوې ساحو ته راځي ورته مناسب څواب ووایي کوم چې کیدي شي ملاتړ ته اړتیا ولري، او ډاډ ترلاسه کړي چې دغو کورنیو ته د دوی د اړتیاوو په هکله مناسب معلومات او مشورې ورکړل شوي دي تر څو د دوي اړتیاوې په ډېر مناسب او ښه ډول پوره شوي دي. هر ځایي چارواکی خپل سیمه ییز وړاندیز خپروي چې په هغه کې کورنیو ته يې په خپله ځایي سیمه کې د بیلابیلو خاصو تدارکاتو په اړه تفصیلي معلومات چمتو کوي.

د لویانو لپاره ښوونه او روزنه

تاسو به په وړیا ډول اضافي ښوونې او روزنې لپاره وړ یاست چې په هغه کې د انګلیسي ژبې کورسونه هم دي او د لویانو د تعلیم د بودیجې (AEB) له لارې تمویلیږي البته که چیرې تاسو د نشر شویو استوګنې شرایطو سره چې هغه ۳ کاله عادي استوګنه په بر کې نیسي مطابقت وکړي. د AEB د تمویل اصول د وړتیا او استوګنې عمومي معیارونه ټاکي: https://www.gov.uk/guidance/adult-education-budget-aeb-funding-rules-2020-to-2021

ښوونه او روزنه به یا په بشپړ ډول تمویلیږي او یا هم په ګډه تمویل شي (نږدې ۵۰٪ د حکومت ونډه) ستاسو عمر، مخکینۍ لاسته راوړنې، او شرایطو پورې اړه لري.

**د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ خپلې سیمه ییزې شورا (<u>لوکل کونسل</u>) سره اړیکه ونیسئ یا دا ویب پاڼه وګورئ: <u>خیله انګلیسي، ریاضي او د معلوماتي ټیکنالوژۍ مهارتونه ښه کړئ</u>**

This publication was withdrawn on 6 November 2023

په انفرادي ډول د انګلیسي ژبې کورسونه پرمخ وړلی شئ که تاسو غواړئ فیس ورکړئ نو د برېټیش کونسل له لارې لاسرسی ورته موندی شي - انګلیسي زده کړې | برېټیش کونسل

د یوې خوندي ازموینې له لارې خپلې انګلیسي ژبې وړتیاوې د ثبوت ورکولو په اړه معلومات په دې ویب پاڼه کې موندلی شئ: https://www.gov.uk/guidance/prove-your-english-language-abilities-with-a-secure-english-language-test-selt

لوړې زده کړې

تاسو کولای شئ آنلاین د ډیری لوړو زده کړو کورسونو لپاره پلټنه او درخواست وکړئ.

د لوړې زده کړې کورس اخیستلو لپاره تاسو باید عموما ۱۸ یا ډیر عمر ولرئ. دا معمولا دلته تدریسیږي:

- پوهنتونونو
- کالجونو
- تخصصي بنسټونو لکه د هنر ښوونځي یا زراعتي کالجونه

د لوړو زده کړو وړتیاوې عبارت دي له:

- ډیپلومونه
- د لیسانس درجې
- د بنسټ درجې (فاونډیشن ډیګرې)
- د مافوق لیسانس فراغت سندونه

پوهنتونونه خپل د داخلې پالیسۍ او اړتیاوې کنټرولوي نو تاسو باید د لوړو زده کړو اړونده چمتوکونکي سره مستقیما اړیکه ونیسئ کوم چې تاسو پکې علاقه لرئ که چیرې تاسو کومه پوښتنه لرئ.

د وسنې پالیسۍ له مخې، تاسو به د فیس لپاره د نړیوال زده کونکي په توګه پاتې شئ تر هغه چې تاسو د اوسېدو لپاره خپله لاره بشپړه کړې وي او د پاتې کیدو لپاره لامحدوده اجازه (انډیفینیټ لیف) مو ترلاسه کړې.

د دې لپاره چې په برېټانیا کې د کورني فیس لپاره وړ اوسئ، یو کس باید په برېټانیا کې د اوسیدلو مستقر وضعیت یا پیژندل شوې اړیکه برېټانیا سره ولري. په برېټانیا کې د عادي استوګنې لپاره هم اړوند اړتیاوې شتون لري. د نورمال شرایطو او وړتیاوو پوره کولو په صورت کې، تاسو به وړتیا ولرئ چې دکورني فیس د ورکړې حالت لاس ته راوړئ که چیرې په برېټانیا کې مو د میشت یا مستقر وضعیت ترلاسه کړئ. دا په تاسو تړاو لرونکو هر یو بانډي هم پلي کیږي.

په برېټانیا کې د تحصیل غوراوي او غوښتنلیک پروسې په اړه معلومات د په برېټانیا کې تحصیل | برېټیش کونسل له لارې د لاسرسي وړ دي.

وړتیاوې

د برېټانیا د اروپایي شبکې معلوماتو مرکز (UK ENIC)، او پخوانۍ (UK NARIC) د برېټانیا د حکومت په استازیتوب د نړیوال قابلیتونو پرتله کولو په اړه تخصصي مشوره وړاندې کوي، د بین المللي وړتیاوو په هکله چې په هغو کې د افغانستان څخه د برېټانیا وړتیاوو پورې شامل دي.

د برېټانیا UK ENIC مرسته کوي د برېټانیا پوهنتونونو، کالجونو او همدارنګه افرادو سره د بهرنۍ وړتیاوو او د زده کړو تجربو د پوهاوی او منلو په هکله. د برېټانیا ENIC UK لخوا خپاره شوي د پرتله کولو بیانات تفصیلی مقایسوي معلومات چمتو کوي. د برېټانیا UK ENIC لخوا وړاندیز شوې مشورې مشتمل دي په جزوي او/یا نیمګړې وړتیاوې تر څو ښوونځیو او کالجونو سره په لاربښوونو کې مرسته وکړي د A Level (ای لیول) په داخلې کې، د ۱۶-۱۹ پورې د تمویل معافیتونو او لوړو زده کړو په شمول.

د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ دلته لاړ شئ www.enic.org.uk یا ایمیل وکړئ info@enic.org.uk

This publication was withdrawn on 6 November 2023

له افغانستان څخه ښوونکي

د افغانستان ښوونکي کولای شي په انګلستان کې د ښوونکو د روزنې اعتبارليک کورس بشپړولو سره په انګلستان کې د ښوونکي ورکیفیت مقام (QTS) ترلاسه کړي. د بدیل په توګه، د افغانستان تجربه لرونکي ښوونکي چې لسانس لري کولای شي یوازې د ارزونې لاره بشپړه کړي. پدې اړه نور معلومات دلته شتون لري:
https://getintoteaching.education.gov.uk/

ښوونکي هم کولای شي په اکاډمیو او وړیا ښوونځیو کې د QTS پرته کار وکړي. بهرني ښوونکي، په شمول د هغه کسانو چې په افغانستان کې یې وړتیا تر لاسه کړې وي، کولای شي تر څلور کلونو پورې د QTS پرته په ساتل شویو ښوونځیو (مینټینډ سکول) کې هم کار وکړي.

د ښوونو خالي دندو پوستونه د ښوونې او روزنې ریاست لخوا د دندو د لست جوړولو رسمي خدمت دی او د ۱۷۰۰۰ ښوونځیو لخوا کته ترې اخستل کېږي او دوی د خپل تدریسي رولونو لپاره کاروي. تاسو کولای شئ په یو ښوونځي کې د یوې دندې لټون وکړئ یا په ټرست انګلیند کې، دندې خوندي کړئ او د دندو خبرتیاوي ترتیب کړئ. تاسو کولای شئ دلته https://teaching-vacancies.service.gov.uk/ د تدریس خالی ځایونو ته لاسرسی ومومئ.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ۹: قانوني حقونه او مسؤليتونه

حقونه او آزادي

په بریتانیا کې هر فرد ورته لومړني بشري حقونه او آزادي لري، چې قانون يې محافظت کوي. دا په بریتانیا کې د خلکو د ژوند څرنګوالي په ګوته کوي. د مثال په توګه:

- هر سړی د آزادۍ حق لري.
- هر سړی د فکر آزادي او د خپل مذهب د عملي کولو حق لري.

په هر صورت، دا غیر قانوني ده چې تاسو په هغه فعالیتونو کې برخه واخلئ چې د بریتانیا قانون ماتوي. دا د قانون خلاف دي چې د یو چا سره د دوی د عقایدو له امله تبعیض وکړئ یا یې تعذیب کړئ.

په بریتانیا کې ارزښتونه او مسؤلیتونه

په قانون کې د خوندي شوي حقونو او آزادي پراساس، له هر چا څخه چې په بریتانیا کې ژوند کوي یا ترې لیدنه کوي تمه کیږي چې د ګډو ارزښتونو او مسؤلیتونو یوې ټولګې ته غاړه کیږدي:

- قانون ته درناوی او اطاعت وکړئ
- د نورو حقونو ته، د هغوی د خپلو نظریاتو د حق په شمول، درناوی وکړئ
- د نورو سره د انصاف چلند وکړئ

واده

د مدني او مذهبي ودونو تر منځ توپیر شتون لري. مذهبي ودونه تر هغه چې د دولت لخوا راجسټر شوي نه وي په رسمیت نه پیژندل کیږي. ځینې مذهبي ودونه په بریتانیا کې نه دي پیژندل شوي او هغه جوړې چې دغسې ودونه کوي باید مدني واده هم ولري. په انګلستان او ویلز کې د قانوني واده لپاره د قانوني اړتیاوو په اړه د نورو معلوماتو لپاره وګورئ: https://assets.publishing.service.gov.uk/government/uploads/system/uploads/attachment_data/file/347609/357c_V3.pdf

په بریتانیاکې د واده قانوني عمر لږترلږه ۱۶ کاله دی. په انګلستان کې تاسو د ۱۶ او ۱۸ کلونو تر مینځ واده کولو لپاره د مور او پلار رضایت ته اړتیا لرئ.

په انګلستان کې قانوني او منل شوي دي چې ښځینه او نارینه سره واده وکړي، ښځینه او ښځینه سره واده وکړي او نارینه او نارینه سره واده وکړي. دا ټول ودونه د قانون لخوا خوندي او منل کیږي.

واده باید د ښکېلو دواړو کسانو له بشپړ او آزادانه رضایت سره ترسره شي.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ۱۰: په تبعیض عمل کول:

په بریتانیا کې دا غیرقانوني دي چې د یو چا سره د جنسیت (جنډر)، نژاد، مذهب، عمر، معلولیت یا جنسي تمایل له امله په توپیر چلند وشي.

نژاد پالنه په بریتانیا کې د منلو وړ نده. دا یو جدي جرم دی چې یو څوک د نژاد له لامله او په دې دلیل چې د دوی ملکیت ته زیان ورسوي د هغه د ټپي کیدو، ځورونې یا لفظي ناوړه ګټې اخیستنې سبب شي. دا هم د قانون خلاف دی چې توکمیز نفرت راپاروي. د بل کس په وړاندې د هغه د توکم، قومیت او یا د زیږون د ځای پر بنسټ تبعیض د منلو وړ ندي. د دندې د غوښتنې، د اوسېدو د ځای د لټون، د ملي روغتیا د خدمت (NHS) د کارونې، او یا یوازې په پلورنځي کې د یو څیز د پیرلو پرمهال نه ښایي له تاسو سره بل ډول په توپیر چلند وشي.

تاسو باید د کار په ځای کې، ښوونځي کې یا په عامه ځای او ځرګنده توګه نسلي او توکمیزه ځورونې سره مخ نشئ (چیرته چې نور خلک ستاسو د توکم په اړه یا له کومه ځایه چې تاسو راغلي یاست ځرګندونې کوي چې ستاسو د سپکاوي او ناآرامۍ لامل کیږي).

که تاسو یا کوم بل څوک چې تاسو یې پیژنئ د توکم پالنې قرباني وي پولیس ته یې په اړه وواياست. هڅه مه کوئ چې پخپله د توکم پالنې یا د توکم پالونکو له برید سره معامله وکړئ.

د جرم قرباني کیدل

موږ ډاډه یو چې د افغانستان پخوانۍ LES هغوی چې غوره کړې بریتانیا خپل کور جوړ کړي، او د خپلو کورنیو سره دلته ګډه وکړي، ښه راغلاست به ورته وویل شي اود مد غم کیدو وړ به وي.

د توکم یا کومې بلې ځانګړتیا له امله د یو چا په نښه کول په بشپړ ډول د منلو وړ نه دي او باید ونه زغمل شي او موږ هر هغه څوک چې د کرکې د جرم سره مخ کیږي، یا جدي ګواښ ترلاسه کوي، هڅوو چې پولیسو ته، یا په بیړني حالت کې د ۱۰۱، ۹۹۹ شمېرو ته د تیلیفون کولو له لارې یا په آنلاین توګه www.report-it.org.uk راپور ورکړي. خلک باید د دې توان ولري چې په خپل ژوندون کې له ځورونې او ډار څخه آزاد ژوند وکړي.

د نفرت د جرم قربانیانو لپاره نور ډاډ دلته په لاندیني لینک کې موندلی شئ
https://www.report-it.org.uk/covid_19_and_racis_hate_crime

تاسو کولای شئ د ملاتړ په اړه نور معلومات دلته وموړئ که تاسو د جرم قرباني یاست:
https://www.gov.uk/get-support-as-a-victim-of-crime

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ضمیمه الف: د خپل کور پیرودل

د خپل کور پیرودلو په اړه دا چې څه تمه کولای شئ او څنګه کولای شئ د خپل کور د اخېستلو لپاره اقدام وکړئ ډېره مهمه ده. مخکې له دې چې د نوي کور په لټولو پیل وکړئ تاسې سره باید یوه مفکوره وي چې څومره پانګه د یو ملکیت لپاره برابرولی شئ. ډیری پیرېدونکي د کور د پیرودلو لپاره مارګیج یا ګڼیه ته اړتیا لري، او تاسو باید په مناسبه مارګیج تولیداتو پسې وګرځئ.

د مارګیج مختلف ډولونه شتون وړاندې کیږي. د نرخ د پرتله کولو ویب پاڼي کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي چې پوه شي کوم ډول محصول شتون لري، یا تاسو کیدی شي د مارګیج یو مشاور ونیسئ ترڅو د مارګیج په اړه شخصي مشوره ترلاسه کړئ (که څه هم تاسو باید د دې خدمت لپاره فیس ورکړئ). که چیرې تاسو غیر معمولي شرایط لرئ، د انفرادي مشورې ترلاسه کول کیدی شي په ځانګړي ډول ګټور وي (د بیلګې په توګه که تاسو چا سره کار نه کوئ او پخپله شخصي کار کوئ یا د کریډیټ ټیټ سکور لرئ)، ځکه چې دا کولای شي د مارګیج ډولونه چې تاسو لپاره د لاسرسي وړ دي محدود کړي. همدا رنګه، ډیری پور ورکونکي د ګروي مشاورین لري چې ولای شي د خپلو محصولاتو په اړه مشورې درکړي.

مخکې لدې چې تاسو د ملکیتونو لیدل پیل کړئ تاسو باید په عمومي توګه د مارګیج پریکړه ترلاسه کړئ. دا د پور ورکونکي لخوا یو لیکل شوی بیان دی چې هغه اټکل کوي چې تاسو څومره پور اخیستلی شئ. دا تاسو ته ستاسو د بودیجې یو څه نښه درکوي او پلورونکو ته سیګنالونه ورکوي چې تاسو د ملکیت پیرود په اړه جدي یاستی. د یو پور ورکونکي څخه په اصولو کې د پریکړې ترلاسه کول پدې معنی ندي چې تاسو باید د دوی نه پور او ګروي واخلئ. په هرصورت، په اصولو کې د پریکړې د پروسې د برخې په توګه، ډیری پور ورکونکي به د کریډیټ (سابقه مالی حالت) لټون ترسره کړي. په هرصورت، په اصولو کې د پریکړې د برخې په توګه، ډیری پور ورکونکي به د کریډیټ لټون ترسره کړي. ځینې پور ورکونکي به نرمه پلټنه وکړي چې ستاسو د کریډیټ په سکور به اغیزه ونلري. نور پور ورکونکي به سخته پلټنه وکړي چې ممکن ستاسو په کریډیټ سکور باندې اغیزه وکړي. تاسو باید ومومئ چې پور ورکونکي کوم ډول پلټنې کوي، ځکه ډېرې پلټنې کول شاید ستاسو په کریډیټ سکور باندې منفي اغیزه وکړي.

د قانون سره سم د املاکو اجنټان، وکیلان او د مارګیج ورکونکي د پیسو مینځلو او درغلیو د مخنیوي لپاره اړ دي ستاسو شناخت بررسي کړي. د لیږد پرمهال په ډیری پړاوونو کې تاسو باید د خپلو پیسو د سرچینو په اړه او د خپل هویت یا پتې د ثابتولو لپاره اسناد تهیه کړئ. پدې کې کېدی شي د بل د پلور څخه حاصل شوی رسید، سپما، د میراث پیسې او د کورنۍ او ملګرو لخوا مالي ډالۍ شاملې وي. د دې معلوماتو چیک کول یوه قانوني اړتیا ده تر څو ستاسو د راکړې ورکړې په خوندي ساتلو کې مرسته وکړي او د پېژندنې د اسنادو چمتو کولو کې پاتې راتلل به پروسه سوکه کړي.

د مناسب چمتووالي د باوري کولو لپاره، د اړتیا وړ اسنادو او مدارکو مخکې له مخکې چمتو کول به ګټور وي:

- د هویت ثبوت - پاسپورټ، د موټر چلولو جواز.
- د آدرس ثبوت - د موټر چلولو جواز، د بانک یا کریډیټ کارت حساب، د برېښنا یا اوبو بل (چې د ۳ میاشتو څخه ډېر زوړ نه وي). د ګرځنده تلیفون بلونه د آدرس د ثبوت لپاره اعتبار نلري.
- د پیسو د سرچینې ثبوت - ستاسو د تیرو ۳ میاشتو تأدیاتو د بیل په شمول؛ ستاسو د کارګمارونکي څخه P60 فورمه؛ د مالیې (ټیکس) اسناد او نور اسناد که تاسو شخصي کار کوئ. هغو اسنادو ته چې تاسو ورته اړتیا لرئ ډېر معلومات د پیسو د مشورتي خدماتو ویب پا ڼو کې شتون لري.

ډیری خلک د ملکیت لټون د ملکیت د آنلاین سایټونو یا د ملکیت د ځايي ایجینټانو له لارې پیل کوي. ډیری ملکیتونه مجازی سفرونه وړاندې کوي چې تاسو سره مرسته کولای شي د ملکیت په اړه مناسب نظر ترلاسه کړئ چې آیا ملکیت ستاسو لپاره سم دی، او تاسو کولای شئ د هغه د دقیق او له نږدې لیدلو لپاره شخصاً له هغه څخه لیدنه وکړئ. کله چې پریکړه کوئ چې کور ستاسو اړتیاوې پوره کوي تاسو باید مختلف معیارونه په پام کې ونیسئ: پدې کې د خوب د خونو شمیر، موقعیت، د ترانسپورت شبکې، محلي ښوونځي، او دا چې آیا ملکیت نوی جوړ دی یا زوړ دی. نوي جوړ شوي ملکیتونوو کیدی شي جذابې وي ځکه چې دا به پاک او کم مصرف وي، خو دا به د ورته اندازې دوهم لاس یا زوړ کور څخه خورا ارزښتناک وي.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

کله چې ملکیت پیرودل په پام کې نیسئ، دا واقعا مهم دی چې تاسو پوه شئ چې آیا ملکیت آزاد (فري هولډ) ملکیت دی یا اجاره يي (لیس هولډ) ملکیت دی. د آزاد ملکیت مالکیت د ځمکې او ودانۍ د بشپړ مالکیت په معنا دی. یو اجاره يي ملکیت په دې معنا دی چې تاسو یواځې د ټاکلې مودې او کلونو لپاره د هغې مالکیت لرئ. تاسو حق لرئ په هغه ملکیت کې ژوند وکړئ، مګر تاسو به اړتیا ولرئ چې د اجارې په شرایطو کې وضع شوي مقررات تعقیب کړئ؛ کوم چې ډیری وختونه پدې معنا دي چې تاسو په هر ډول بدلونونو کې محدود یاست. تاسو ممکن د اجارې په جریان کې د اجارې مالک ته د ځمکې کرایه او د خدماتو لګښتونه هم تادیه کړئ. فلیټونه اکثرا اجاره يي دي، مګر کورونه هم کیدی شي اجاره يي وي. د اجارې اوږدوالی به په تړون کې مشخص شي، مګر تاسو باید د املاکو له اجنټ څخه وپوښتئ چې څومره موده په اجاره کې پاتې ده او د وړاندیز کولو دمخه تاسو باید دا معلومات ترلاسه کړئ. هرڅومره چې د اجارې اوږدوالی لږ وي، د ملکیت ارزښت به اغیزمن شي، په ځانګړې توګه که د ۸۰ کلونو څخه کم وي؛ ډیری پور ورکونکي د ملکیتونو پور ورکولو کې زړه نا زړه وي چې د اجارې وخت له ۸۰ کلونو څخه لږ پاتې وي. لاندینی لارښود د اجاره يي ملکیت کورونو په اړه ډیر معلومات لري:
: https://www.gov.uk/government/publications/how-to-lease

کله چې تاسو یو کور ومومئ چې ستاسو لپاره مناسب وي، نو تاسو به اړتیا ولرئ پیرودونکي ته د ملکیت پیرودلو وړاندیز وکړئ. دا یو لوی ګام دی، او تاسو باید د چمتو کیدو د مخه د وړاندیز کولو لپاره فشار احساس نکړئ. دوهم لید اکثرا ګټور وي کله چې پریکړه کوئ چې آیا دا ستاسو لپاره سم کور دی.

تاسو اړتیا نلرئ د ملکیت لپاره د پلورونکي د غوښتنې بیعه وړاندې کړئ - دا بیعه د خبرو اترو پروسه ده او تاسو کولای شئ ټیټ یا لوړ وړاندیز وکړئ. د املاکو اجنټ قانوناً مکلف دی چې پلورونکي ته ټول وړاندیزونه ورسوي او پلورونکی مکلف نه دی چې مقدار ته له پاملرنې پرته کوم وړاندیز ومني.

د وړاندیز کولو وروسته چې د پلورونکي لخوا ومنل شو، تاسو به اړتیا ولرئ یو قانوني استازی ونیسئ څوک چې د قانوني چیکونو په ترسره کولو او ستاسو د نوي ملکیت د انتقال د قانوني کار په بشپړولو کې کلیدي رول لوبوي. تاسو باید د دې قانوني استازي په اړه خپل د ملکیت اجنټ ته احوال ورکړئ، او تاسو باید د املاکو اجنټ څخه د پلور یادداشت ترلاسه کړئ چې ستاسو د وړاندیز یا آفر عمده مطالب په لیکلي بڼه کې وړاندې کوي. تاسو به اړتیا ولرئ د پور ورکونکي سره د مارګیج لپاره یو پوره غوښتنلیک بشپړ کړئ چې تاسو يې د کارولو پریکړه کوئ؛ یا که تاسو د مارګیج دلال شکیل کړئ دوی به وکولای شي دا ستاسو په استازيتوب ترسره کړي. تاسو باید د احتمالي نوي ملکیت سروی په کلکه په پام کې ونیسئ مخکې لدې چې قراردادونه تبادله شي. دا به تاسو ته مشوره درکړي چې په ملکیت اړین سمدلاسه او په راتلونکي کې لوی او کوچني د ترمیم کارونه کوم دي.

ستاسو د وړاندیز له منل کیدو څخه څو ورځې وروسته، له خپل قانوني استازي څخه په دې اړه وپوښتئ چې پلورونکي خپل قانوني استازي ته لارښوونه کړې او د پیرودلو کار مخکې روان دی. کیدی شي د کور پیرودل یوه اوږده پروسه وي؛ که څه هم وختونه توپیر لري، خو شاوخوا دولس اونۍ وخت به ونیسي. د ملکیت پلور ډیری وختونه په مربوط ملکیتي سلسلو کې ترسره کیږي چیرې چې ډیری معاملې په یوه وخت کې ترسره کیږي.

یو شفاهي وړاندیز باندې هر وخت کې کیدای شي خبرې او اترې وشي تر څو چې تړونونه نه يي تبادله شوي، مګر تاسو باید د خبرو اترو دمخه په دقت سره فکر وکړئ او یوازې هغه وخت خبرو اتر په نرخ کې بدلون راولئ کله چې بدلون توجیه کیدی شي؛ د مثال په توګه، که د کور سروی د پام وړ مسئلې په ګوته کړي وي. د بیا خبرو او د وړاندیز څېړلو هڅې کله چې د پلورولو د بشپړ وخت نږدې وي کیدی شي د ځنډ لامل شي او یا هم د پلورلو د ساقطیدو خطر په کې واقع شي.

کله چې تاسو د پلورونکي سره تړونونه تبادله کړل او پېشکي (ډیپازیټ) مو ورکړل، نو تاسو د ملکیت د پیرودلو لپاره قانوني اړونده ژمنې ته داخل شوئ. که تاسو تر تبادلې وروسته له ژمنې څخه لاس واخلئ، نو تاسو ممکن خپله پیشکي له لاسه ورکړئ او ممکن د نورو زیانونو لپاره پلورونکي ته تلافي ورکړئ. په تبادله کې، تاسو به د پلورونکي سره د تکمیل نیټه هم تایید کړئ، ډیری وختونه شاوخوا ۲-۴ اونۍ وروسته (که څه هم دوی کېدی شي په عین وخت کې پیښ شي).

This publication was withdrawn on 6 November 2023

تاسو باید په پام کې ونیسئ چې څنګه به خپل شیان خپل نوي کور ته لېږدوئ. که تاسو غواړئ د مسلکي لېږد شرکت په توسه یې ولېږدوئ، نو د امکان تر بریده د خپل لېږد د نیټې په اړه هغوي خبر کړئ.

تکمیل هغه وخت پیښیږي کله چې ستاسو قانوني استازي پاتې پیسې د پلورونکي استازي ته ولیږدوي او تاسو د ملکیت مالکیت واخلئ. کیلیاني معمولا د غرمې په شاوخوا کې د بشپړیدو د نیټې په ورځ سپارل کیږي؛ پدې وخت کې تاسو کولای شئ خپل نوي ملکیت ته لاړ شئ یا په هغې کې کار پیل کړئ.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

## ضمیمه ب: په بریتانیا کې د ماشومانو لپاره د ښوونځي د ځای ترلاسه کولو لپاره معلومات

**مقدمه**

که تاسو په انګلستان کې اوسیږئ او ۵ کلن تر ۱۶ کالو ښکته ماشوم لرئ تاسو اړ یاست چې باوري کړئ چې دوی د بشپړ وخت تعلیم ترلاسه کوي. دا کیدی شي یو د دغو نه وي:

- په دولتي تمویل شوي ښوونځي کې، چې نشي کولای ستاسې څخه ستاسې د ماشوم د تعلیم لپاره پیسې واخلي؛
- په یوه خپلواکه ښوونځي کې (چې د ځانګړي یا شخصي ښوونځي په نوم هم بلل کیږي)، چې عموما به ستاسو څخه ستاسې د ماشوم د تعلیم لپاره پیسې واخلي؛ یا
- تاسو کولای شئ خپل ماشوم لپاره په کور کې ښوونه او روزنه غوره کړئ.

ماشومان به د معمول سره سم د سپتمبر په میاشت کې د دوی څلورمې کلیزې وروسته د پوره وخت ښوونځي ته ځي مګر تاسو اختیار لرئ چې سمدلاسه ستاسو د ماشوم تر ۵ کلنۍ وروسته د ترم[2] (موده) تر پیله پورې لنډمهال ځای ورته غوره کړئ. په متبادله توګه، تاسو غوښتنه کولای شئ چې ستاسو ماشوم به د ۵م کلیزې وروسته د ترم له پیل څخه ښوونځي ته ځي.

همدا راز ځینې ښوونځي به د ۱۶-۱۸ کالو ځوانانو لپاره تعلیم چمتو کړي. دا ځوانان هم کولای شي د شپږم فارم کالجونو ته غوښتنلیک ورکړي - چې په معمول ډول د ۱۶-۱۹ کلونو ځوانانو لپاره تعلیم وړاندې کوي - یا د تکمیلي زده کړو کالجونو ته چې کولای شي د ۱۶ کالو څخه پورته عمر لرونکو ته زده کړې چمتو کړي (او په استثنایي توګه د دې عمر لاندې ځینو ماشومانو لپاره).

دا یادداشت زیاتره تاسو ته توصیه کوي چې څنګه کولای شئ په انګلستان کې د دولتي تمویل شوي ښوونځي لپاره د درخواست اقدام وکړئ.

**لارښوونه**

مورږ [دلته](#) د انګلیسي ښوونځي د داخلې د پروسې په اړه والدینو ته معلومات چمتو کوو.

مورږ [دلته](#) د انګلستان ښوونځیو ته د لاسرسي لپاره بریتانیا ته د داخلیدو په هکله د بهرنیو ملیتونو ماشومانو د حقونو په اړه معلومات چمتو کړي.

که تاسو په سکاټلینډ یا ویلز کې میشت یاست، دا لارښودونه د دوی ویب پاڼو ته لیکونه چمتو کوي.

تاسو نشئ کولای په عادي ډول د دولتي تمویل شوي ښوونځي کې ځایونو لپاره د پام وړ نیټې څخه مخکې غوښتنه وکړئ چې ځای ونیسئ. استثناوې د "همغږي شوي" داخلو لپاره دي چې د ښوونځي اروند کال پورې د "اروند عمر ګروپ" کې د داخلې لپاره شامل دي - معمولا په هرکلي کال (ریسپشن) او ۷ کلن ته (لاندې او لارښود [دلته](#) وګورئ).

که تاسو په بریتانیا کې اوسیږئ تاسو د خپلو ماشومانو لپاره دولتي تمویل شوي ښوونځي ته د لاسرسي حق لرئ. تاسو باید په عادي توګه، د بریتانیا اوسیدونکي اوسئ مخکې لدې چې تاسو د ښوونځي ځای لپاره غوښتنه وکړئ. تاسو کولای شئ د لیرد دمخه د ښوونځي ځای لپاره غوښتنه وکړئ، مګر دا ځای به په نورمال ډول تاسو ته په هیواد کې د اوسیدلو څخه مخکې نه اختصاصیږي.

**د داخلې همغږی شوی پروسه.**

د سیمه ییز چارواکي (ʼLAʼ) لخوا چیرته چې تاسو اوسیږئ د "داخلې همغږی" په نوم پروسه شتون لري. تاسو کولای شئ خپل ځایي LA [دلته](#) ومومئ.

---

[2] ترمونه (مودې): د ښوونځي کال په نورمال ډول په ۳ ویشل شوی. که څه هم نیټې ممکن له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته توپیر ولري، د مني موده به د اګست له ۳۱ وروسته، د پسرلي موده د دسمبر ۳۱ وروسته او سمر ټرم (د دوبي موده) د ۳۱ مارچ څخه وروسته پیلیږي. په هره موده کې په نورماله توګه یوه نیمه لنډمهاله وقفه وي او د مودو ترمنځ اوږدې وقفې وي. تر ټولو اوږدې وقفې د دوبي په پای کې د دوبي د پای او د ښوونځي د راتلونکي تعلیمي کال د پیل په مینځ کې شاوخوا ۶ اونۍ وي.

This publication was withdrawn on 6 November 2023

همغږي شوې پروسه به هغه وخت پلې شي کله چې تاسو د راتلونکي سپتمبر لپاره د خپل ماشوم لپاره د "داخلې[3] لپاره د اړوند عمر ګروپ" کې د ځای په لټه کې یاست.

د عمر اړوند ګروپونه په نورمال ډول هرکلی (رسپشن) (د هغه ماشومانو لپاره چې د راتلونکي سپتمبر په میاشت کې به ۴ کلن شي) یا اوم کال (د هغوماشومانو لپاره چې د راتلونکي سپتمبر په میاشت کې به ۱۱ کلن شي) دي.

تاسو د کور ځایي چارواکو ته د عامه غوښتنلیک فارم کې ځایونو لپاره غوښتنه کوئ چې دا به د دې ویب پاڼې په "ښوونځي کې داخله" 'school admissions'یا "ښوونځي" 'schools'برخو کې خپاره کړي. تاسو کولای شئ په ښوونځي کې لږترلږه ۳ انتخابونه په فورمه کې تنظیم کړئ او خپلو ځایي چارواکو او نورو ځایي چارواکو ته د ښوونځیو لپاره غوښتنه وکړئ. تاسو کولای شئ د کوم ښوونځي لپاره لومړیتوب څرګند کړئ مګر په عموم کې، ستاسو کور ته نږدې ښوونځي وي، دا ښه چانس دی چې تاسو ته هلته د ځای ورانديز وشي. په هرصورت، دا د هر ښوونځي سره مسله نده څکه چې دا به د داخلې د چارواکو د داخلې په تنظیم پورې اړه ولري. په انټرنیټ کې د ښوونځي لټول او د دې خپاره شوي داخلې تنظیم ته کتنه باید تاسو ته یوه نښه یا اشاره درکړي چې ایا ستاسو ماشوم ته به د ځای ورانديز وشي.

تاسو ته به ستاسو د کور سیمه ایز چارواکو لخوا ستاسو د تر ټولو د لوړ ترجیح ورانديز کیږي. که تاسو ته ستاسو د هیڅ ډول غوره توب ورانديز ونه شي، تاسو ته به د یو بدیل ښوونځي ورانديز وشي چې خالي ځایونه لري.

په راتلونکي سپتمبر کې د داخلې لپاره د غوښتنلیکونو سپارلو د پای نیټې دي:

- ثانوي - ۳۱ اکتوبر؛
- ابتدائی - د جنوري ۱۵.

د ملي ورانديز نیټې په لاندې ډول دي:

- ثانوي - ۱ مارچ؛
- ابتدائی - د اپریل ۱۶.

همغږي شوې پروسه، د ځایي چارواکو په ملتیا د پورتني کال ګروپونو کې ځایونه ورانديز کوي، د اګست تر ۳۱ پورې د ناوخته غوښتونکو او هغو کسانو لپاره دوام لري چې پورتنۍ نیټې کې د هغه د غوره ښوونځی ورانديز ورته نشي کېدلی.

**د پورتني مهالویش د چوکاټ څخه بهر غوښتنلیکونه - 'په کال کې دننه' داخلې.**

د افغانستان د کورنیو څخه ډیری غوښتنلیکونه، لږترلږه په انګلستان کې د هغوی په لومړي کال کې، احتمال لري هغه وي چې ورته 'په کال کې دننه' داخلې ویل کیږي.

په کال کې د ننه داخله عبارت ده له:

- د ښوونځي کال له پیل وروسته د اړونده عمر ګروپ لپاره غوښتنلیک (په نورمال ډول هرکلی (رسپشن) او ۷ صنف)؛ یا
- د بل هر کال ګروپ لپاره غوښتنلیک په هر وخت.

که څه هم ځینې ښوونځي به د کال په اوږدو کې ځایونه ولري، ستاسو د ښوونځي انتخاب شاید د دې حقیقت له مخې محدود وي چې ځینې خورا مشهور ښوونځي به ډک وي چې کله تاسو د کال دننه ځای لپاره غوښتنه کوئ.

تاسو کولای شئ په ښوونځیو کې د ځای د شتون په اړه معلومات له محلي چارواکو څخه کوم ځای کې چې ښوونځي واقع دی لاس ته راوړئ.

تاسو به معمولا د ښوونځي د داخلې اداري ته د یو کال ځای لپاره نېغ په نېغه عریضه یا درخواست وکړئ. په دې اړه مشوره چې په یوه ښوونځي کې د داخلې لپاره به واکمن څوک وي د دې ضمیمې په پای کې راوړل شوی. د داخلې اداره به یا

[3] د ښوونځي لپاره د داخلې عادي کال ګروپ، معمولا د دې تر ټولو ټیټ کال ډله ده. د عمر تر ټولو عام تړاو ذیربطې ډلې هرکلی (رسپشن) او ۷ کلن دي.



This publication was withdrawn on 6 November 2023

د ښوونځي د ویب پاڼې له لارې د اړیکې وړ وي یا د هغو ښوونځیو په صورت کې چې د ټولنې لخوا یا په داوطلبانه ډول کنټرولېږي، تاسو کولای شئ له ځایي چارواکو سره اړیکه ونیسئ.

د ځینې ځایي چارواکو په ساحو کې، ځایي چارواکی به د ځایونو لپاره په کال کې دننه د ټولو غوښتنلیکونو چارې به مخې ته یوسي. په دې اړه چې ستاسو په سیمه کې کوم سیستم پلي کیږي د خپلو ځایي چارواکي سره وغږیږئ.

یو توپیر چې تاسو به یې ووینئ هغه دا دی، حتی چیرې چې ځایي چارواکې د ښوونځیو لپاره په کال کې دننه غوښتنلیکونه همغږي کوي، که تاسو غواړئ د خپل ځایي چارواکي له ساحې څخه بهر د ښوونځي لپاره غوښتنه وکړئ، نو تاسو باید مستقیما ګاونډیو ځایي چارواکو ته، یا ښوونځي ته غوښتنلیک ورکړئ، دا پدې پورې اړه لري چې کوم سیستم په دې ساحه کې په کال کې دننه ځایونو د تخصیص لپاره عملي کیږي.

### ځایونه څنګه تخصیص کیږي؟

هر ښوونځي کې محدود ځایونه شتون لري. د دې تعین د ښوونځي د داخلې د اداري لخوا د داخلې په پالیسۍ کې کېږي. که چیرې د موجوده ځایونو څخه ډیر غوښتونکي شتون ولري، ښوونځی باید څپاره شوي داخلي انتظامات پلي کړي ترڅو دا مالومه کړي چې څوک داخل شوي. دلته او دلته د داخلې د پالیسي یو څو مثالونه شته دی.

### د داخلې چارواکي د ځای وراندیز کولو دمخه څه غوښتنه کولای شي.

د ښوونځي د داخلې چارواکي ممکن ستاسو غوښتنلیک سره ستاسو د آدرس د شواهدو غوښتنه وکړي. دا مهم دی څکه چې ځینې ښوونځي د ورسره نښتې او څېرمه ساحې سیستم عملي کوي (هغو ماشومانو ته د داخلې لپاره لومړیتوب ورکوې چې ښوونځي ته څېرمه ژوند کوي) او که چیرې دوه ماشومان د داخلې لپاره مساوي شرایط ولري او د داخلې ځای یو پاتې وي، بیا له کور څخه تر ښوونځي پورې فاصله هم اکثره د لومړني غوراوي په توګه کارول کیږي تر څو دا مالومه کړي چې کوم یو ته د داخلې وړاندیز وشي.

هغه ښوونځي چې مذهبي لقب لري ممکن ماشومانو ته د هغوی مذهب څخه د داخلې لپاره لومړیتوب ورکړي. د دې ښوونځیو لپاره د داخلې چارواکي ممکن تاسو څخه غوښتنه وکړي چې د اضافي غوښتنلیک فورمه ډکه کړئ تر څو دا مالومه کړي چې آیا تاسو د دوی د باور د معیارونو پلي کولو لپاره د عقیدتي ډلې یا د اړوند ګروپ غړي یاست. د باور غړیتوب او عمل عمومي تدابیر په عقیده کې بېتیزم دي (چې په عام ډول د رومن کاتولیک مکتبونو کې کارول کیږي) یا په کلیسا، معبد، جومات یا عبادت ځای کې حاضریدل - د ښوونځي په عقیدتي سیستم پورې اړه لري.

د داخلې اداره نه شي کولای د داخلې د پروسې په جریان کې د ماشوم یا کورنۍ په اړه شخصي معلومات، د ماشوم د ښوونځي اسناد، له تاسو وغواړي. د دې قواعدو یوازینۍ استثنا هغه موارد دي چې ماشوم د محلي چارواکو[4] لخوا تر مراقبت لاندې نیول وي، یا مخکې تر مراقبت لاندې نیول شوی وي - دا ماشومان په ښوونځي کې د داخلې لپاره له لوړ لومړیتوب څخه برخمن کیږي - که کورنۍ یې اړوند دین تعقیبوي یا د اړوند مذهبي ګروپ غړیتوب وي یا نه، د مذهبي سیستم ښوونځي ته د داخلې لپاره یا که ماشوم د زده کوونکي مالي مرستې[5] لپاره وړ وي یا نه، که ښوونځي ورته ماشومانو ته د داخلې لپاره لومړیتوب ورکړي.

کله چې د ځای وړاندیز وشي، ښوونځي کیدی شي ستاسو د ماشوم د زیږون د نیټې د شواهدو غوښتنه وکړي.

### څه باید وکړئ که تاسو هغه ښوونځي چې تاسو یې غواړئ ترلاسه نه کړئ

کیدی شي تاسو ته ستاسو په غوره شوي ښوونځي کې د ځای وړاندیز ونه شي.

[4] په انګلستان کې د "ماشومانو ته پاملرنه" اصطلاح د ماشومانو ۱۹۸۹ قانون لاندې تعریف شوې. یو ماشوم د ځایي چارواکي په مراقبت کې وي که چیرې هغه د دوی په پاملرنه کې وي یا د چارواکو لخوا له ۲۴ ساعتونو څخه د زیات وخت لپاره ورته ځای (د مثال په توګه 'د ماشومانو کور' د پاملرنې لاندې ماشومانو لپاره) برابر شوی وي.

[5] ځینې بېوزله ماشومان (ښوونځیو ته) د زده کوونکو لپآره مالي مرستې راجلبوي او ځینې ښوونځي غوره ګڼي چې دوی ته د داخلې لپاره لوړ لومړیتوب ورکړي. تاسو پدې پاڼه کې د سکرول کولو په واسطه کولای شئ وګورئ چې کوم ماشومان وړ دي: https://www.gov.uk/government/publications/pupil-premium/pupil-premium

This publication was withdrawn on 6 November 2023

که تاسو ته په ښوونځي کې د داخلې لپاره د ځای وړاندیز و نشو، د داخلې اداري څخه وغواړئ چې ستاسو ماشوم د ښوونځي په انتظار لیست کې ځای په ځای کړي که چیرې پدې وخت کې د انتظار لیست شتون ولري. د انتظار لیستونه د نیټې د ترتیب پرځای د ښوونځي لخوا د چاپ خپرو شوو داخلې ترتیباتو سره سم تنظیمیږي. دا پدې معنا ده چې ستاسو ماشوم کولای شي د وخت په اوږدو کې د انتظار په لیست کې پورته یا ښکته لاړ شي.

تاسو کولای شئ د خپل ماشوم لپاره د ځای د وړاندیز د هر ډول انکار په وړاندې اعتراض (اپیل) هم وکړئ. هر کله چې تاسو ته له کوم ځای څخه انکار شوی وي، د ښوونځي لپاره د داخلې اداره باید د اپیل وړاندیز وکړي. د اعتراض داوریدو لپاره (اپیل پینل) له ښوونځي څخه جلا یا خپلواک دی. د غوښتنې پروسې په اړه د والدینو لپاره لارښود دلته واضح شوی. تاسو کولای شئ له یو چا څخه غوښتنه وکړئ چې په استیناف کې ستاسو استازیتوب وکړي یا تاسو پخپله قضیه وړاندې یوسئ. اپیل به په دې غور وکړي چې آیا د داخلې اداره ستاسو د ماشوم د ځای ردولو په اړه سمه وه او آیا ستاسو دلایل د هغه ځای د اړتیا لپاره د داخلې د چارواکو لخوا د ردولو له دلایلو ډیر دي.

د اپیل لپاره بیلابیلې پروسې د کوید-۱۹ نړیوالې وبا په ترڅ کې شتون لري. په عمومي توګه استینافونه به حضوري نه بلکه کیدی شي په مجازي ډول وي. په دې اړه مشورې دلته ورکړل شوې دي.

**د ښوونځي غوره کول**

ډیرې سرچینې شتون لري چې والدین کولای شي هغوی وکاروي چې د ښوونځي په غوره کولو ورسره مرسته وکړي.

تاسو کولای شئ د'ښوونځیو په اړه معلومات ترلاسه کړئ'په کلیک کولو سره خپل کور ته نږدې ښوونځي ومومئ. تاسو کولای شئ خپله پلټنه د خپل آدرس څخه د فاصلې او د ښوونځي د ډول له نظره چن یا فلټر کړئ.

د هرې سیمې ځایي چارواکي په خپل ویب پاڼه کې د سیمې د ټولو ښوونځیو په لیست کولو د داخلې لارښود هم خپروي. دلته او دلته یو څو مثالونه شتون لري.

د ښوونځیو د کړنو د پرتله کولو ویب سایټته په مراجعه کولو، کیدی شي ستاسو د غوره شوویو ښوونځیو د کړنو د پرتله کولو لپاره ګټور وي. د پرمختګ د میزان ۸ نمرې، د ماشومانو پرمختګ په ۸ مضمونونو کې، ثانوي ښونځي ته د داخلېدو او فارغېدو په اوږدو کې اندازه ګیري کوي. په لوستلو، لیکلو او ریاضي کې د پرمختګ نمره د لومړني ښوونځیو لپاره ورته اندازه او معیار ده.

که تاسو غواړئ پدې اړه نور جزئیات وګورئ، نو خورا نوي ښوونځي به نورد آفسټید تفتیش په راپور کې وړاندې شي، او تاسو یې په دې ویب پاڼهکې لټولی شئ.

**شپږم فارم (سیکسټ فارم) کې د ځای لپاره غوښتنه کول**

د شپږم فارم زده کړه په عمومي ډول د ۱۶ کلنۍ عمر او له دې څخه پورته عمر لرونکو ځوانانو/پېغلو لخوا ترسره کیږي.

۱۶ کلنۍ څخه وروسته زده کړې به دغه وړاندې کوي:

- ځیني ښوونځي،
- شپږم فارم کالجونه؛ یا
- د نورو زده کړو کالجونه.

د ملي شغلي خدمت (نشنل کیریر سروس) یوه ویب پاڼه ستاسو خدمت ته وړاندې کوي چې د ۱۶ کلنۍ وروسته کوم کورسونه د بېلا بېلو ښوونځیو او کالجونو لخوا وړاندې کیږي.

ځایي چارواکي په ندرت سره د ښوونځیو لپاره د شپږم فارم ځایونو (لکه د ۱۶ کلونو عمر لرونکو څو د ۱۹ کلونو څخه کم عمر ځوانانو لپاره ځایونو) په تخصیص کې مستقیم رول لوبوي.  په هر صورت، ځینې ځایي چارواکي به والدینو ته د دوی په شپږم فارمونو کې د خالي ځایونو په اړه مشوره ورکړي. نو تاسو کولای شئ د خپل ځایي چارواکي سره اړیکه ونیسئ ترڅو هغوی سره په دې اړه وغږیږئ چې چیرې خالي ځایونه شتون لري.



This publication was withdrawn on 6 November 2023

د 'ښوونځیو په اړه معلومات ترلاسه کړئ' ویب پاڼه به تاسو ته وښيي چې کوم ځايي ښوونځي د ۱۶-۱۸ کلونو عمر لرونکو ځوانانو لپاره کورسونه چمتو کوي. تاسو باید بیا د دوی ویب پاڼو کې د غوښتنلیک خرنګوالي او غوښتنلیکونو لپاره ټاکلې نیټې وپلټئ.

ډيری ځایونه به د ښوونځي کال د پیل کیدو دمخه تخصیص شي. او دا په نورمال ډول د شپږم فارم په کالجونو هم تطبیقیږي مګر د نورې زده کړې ځايي کالجونه امکان لري د کال په اوږدو کې ځای وړاندې کړي، او دا د کورس موجودیت پورې هم اړه لري.

**د دولت لخوا د تمویل شوو ښوونځیو ډولونه**

په انګلستان کې د دولتي تمویل شوو ښوونځیو پراخه لړۍ شتون لري. هغه څه چې په دې ټولو کې مشترک دي دا دي چې دوی به ستاسو ماشومانو لپاره پراخه او متوازنې زده کړې وړاندې کړي، که څه هم د پوهنتون تخنیکي کالجونه (UTCs) او سټوډیو ښوونځي (دعملي زده کړې ښوونځي)، په ځانګړې توګه د ۱۴ کلن او پورته کلونو ماشومانو لپاره، به ډیرې حرفوي زده کړې وړاندې کړي.

د ګرامر ۱۶۳ ښوونځي به د تر ټولو علمي پلوه وړ ماشومانو ته هدفمندې زده کړې وړاندې کړي. ستاسو ماشومان به د داخلې ته پام کې نیولو لپاره د انتخاب ازموینې ته اړتیا ولري. دا د هر ښوونځي لپاره د هماغه د داخلې د مسئولینو، یا ځایي چارواکو لخوا اداره کیږي. هره سیمه ګرامر ښوونځی نه لري.

د ثانوي ښوونځي خورا عام ډول (کابو ۳۲۰۰) کمپریهینسیو (جامع او پراخه) دي. دوی د ټولو وړتیاو ماشومانو ته روزنه ورکوي. هر یو (د ۱۷۰۰۰ څخه لږ کم) لومړني ښوونځي د ټولو وړتیاو ماشومانو ته روزنه ورکوي.

ځینې ښوونځي کېدی شي مذهبي لقب ولري او ممکن دوی د عقیدې پر بنا ماشومانو ته به د نورو ماشومانو په پرتله د داخلې لپاره لومړیتوب ورکړي. تاسو به اړتیا ولرئ د دوی ویب پاڼې وګورئ.

**د ښوونځي د داخلې چارواکي.**

پداسې حال کې چې د هرکلی (رسیپشن) او ۷م کال (صنف) لپاره د داخلې غوښتنلیکونه د بندیدو د نیټې په وخت داخل وي شوي ځايي چارواکو ته ورکول کیږي، په کال کې دننه غوښتنلیکونه باید په ډیری برخو کې مستقیما د داخلې چارواکو ته ورکړل شي. دا لاندې دي:

| د ښوونځي ډول | | د داخلې چارواکي |
|---|---|---|
| ټولنیز ښوونځی (له ۶۰۰۰ ښوونځیو څخه ډیر) | | ځايي چارواکي، د اړیکې تفصیلات د دوی په ویب پاڼه کې. |
| فاؤنډیشن ښوونځی (له ۷۰۰ څخه ډیر ښوونځي) | | واکمن هیئت، د ښوونځي په ویب پا نه کې د اړیکو تفصیلات |
| په رضاکاره توګه کنټرول شوی ښوونځی (له ۱۷۰۰ څخه ډیر ښوونځي) | | ځايي چارواکي، د اړیکې تفصیلات د دوی په ویب پاڼه کې. |
| په رضاکاره توګه مرسته شوی ښوونځی (کابو ۳۰۰۰ ښوونځي) | | واکمن هیئت، د ښوونځي په ویب پا نه کې د اړیکو تفصیلات |
| د اکاډمۍ ښوونځی (له ۸۰۰۰ ښوونځیو څخه ډیر) | | اکاډمي ټرسټ، د ښوونځي ویب پاڼه کې د اړیکو تفصیلات |
| وړیا ښوونځي (له ۴۰۰ ډیر ښوونځي) | | اکاډمي ټرسټ، د ښوونځي ویب پاڼه کې د اړیکو تفصیلات |
| سټوډیو ښوونځی (له ۲۰ څخه ډیر ښوونځي) | | اکاډمي ټرسټ، د ښوونځي ویب پاڼه کې د اړیکو تفصیلات |
| UTC (شاوخوا ۵۰ ښوونځي) | | اکاډمي ټرسټ، د ښوونځي ویب پاڼه کې د اړیکو تفصیلات |

This publication was withdrawn on 6 November 2023